# د بشري حقونو د سرغړونو افغـان قربانيـانـو لپاره د عدالت لارې

دويم سمون

دسمبر ۲۰۲۵



## پیژندنه

افغانسـتان لـه مجازاتـو او تاوتریخوالـي څخـه د معافیـت ښـکاره بېلګـه ده. لسـګونه کاله شـخړه او مسـتبد حاکمیت د بشـر حقونـو د بـې شـمېره نقضونـو د قربانـۍ لامـل شـوی، لکـه جنګـي جنایتونـه، د بشـریت ضـد جنایتونـه، او احتمـالاً نسـل وژنـه. مرتکبـان لـه معافیـت څخـه برخمـن دي، پـه داسـې حـال کـې چـې د قربانیانـو کورنـۍ او پاتـې کسـان لـه عدالـت څخـه محـروم دي. د ۲۰۰۴ کال څخـه وروسـته سیاسـی نظـام د سـولې او ولسـواکۍ پـه ټینګولـو کـې پاتـې راغـی، اجـازه یـې ورکـړه چـې لـه مجازاتـو څخـه معافیـت دوام و مومـي او پـه ۲۰۲۱ کال کـې د طالبانـو د بېرتـه راسـتنېدو زمینـه یـې برابـره کـړې. واک تـه لـه راسـتنېدو څخـه، طالبانـو قانونـي حفاظتـي یـا سـاتونکي ضمانتونـه تعلیـق کـړي، د ځـواب وینـې بنسـټونه یـې لـه منځـه وړي او د ټولـو تېـرو جرمونـو لپـاره یـې عمومـي عفـوه کـړې ده. پـه دې توګـه یـې روانـې منظمـې سـرغړونې لـه هیـڅ حـل لارې پرتـه، د ننـه پـه افغانسـتان کـې ممکنـې کـړې دي. پـر همـدې بنسـټ، لـه افغانسـتانه بهـر د عدالـت تعقیبـول اړیـن او فـوري دي.

دا راپـور د ځـواب ویلـو اړونـد میکانیزمونـه پـه لنـډه توګـه معرفـي کـوي. پـه داسـې حـال کـې چـې هیـڅ میکانیـزم پـه یواځـې ځـان بشـپړ عدالـت نـه رامنځتـه کـوي، د ظرفیتونـو او محدودیتونـو پېژنـدل یـې د قربانیانـو د کورنیـو لـه ملاتـړ، لـه معافیـت سـره مبـارزې، بین‌المللـي پاملرنـې سـاتلو، ملـي روغـې جـوړې او د قانـون لـه حاکمیـت سـره مرسـته کـوي.

دا لیکنـه «د بشـر حقونـو د سـرغړونو د افغـان قربانیانـو لپـاره د عدالـت لارې» تـر سـرلیک لانـدې د ۲۰۲۴ کال پـه مـی میاشـت کـې د خپـور شـوي راپـور دویـم سـمون دی. دویـم سـمون د ځـواب ویلـو پـه برخـه کـې وروسـتیو پرمختګونـو تـه پـه کتـو، همـدا راز د لومـړي راپـور د ګډونوالـو او لوسـتونکو د ارزښـتمنو نظریاتـو ترلاسـه کولـو او د دې رپـوت د شـفافیت، دقـت او قابلیـت لپـاره ترتیـب شـوی دی.

## د راپـــور جوړښت

دا راپـور د قربانـي محـوره عدالـت د لارښـودو اصولـو پـه تعریـف او مـرور سـره پیلیـږي. لـه لوسـتونکو غوښـتنه کیـږي چـې پـه دې راپـور کـې د پیژنـدل شـویو میکانیزمونـو د مـرور پـر مهـال، دغـه اصـول پـه نظـر کـې ونیسـي؛ ځکـه چـې لـه قربانیانـو او د هغـوی لـه کورنیـو سـره د چلنـد د ارزولـو لپـاره وسـیله او ابـزار رامنځتـه کـوي.

ورپسـې د افغانـو قربانیانـو د کورنیـو او مدنـي ټولنـې تـه د ځـواب ویلـو (بین‌المللـي) قضایـي او غیرقضایـي میکانیزمونـه پـه دوه برخـو کـې راوړل کیـږي. د لا اسـانه درک او د میکانیزمونـو د پرتلـه کېـدو لپـاره لـه ورتـه چوکاټونـو څخـه چـې لانـدې لیسـت شـوي دي، ګټـه اخسـتل کیـږي:

- څه دی: د بنسټ یا بهیر پیژندنه
- محرکونه: د فعالولو حقوقي او سیاسي شرایط.
- پایلې: ممکنې پایلې، لکه تعقیبونه، قضایي احکام یا د خسارې جبران.
- تعامل او همکاري: د قربانیانو د ګډون فرصتونه، مدني ټولنه او د بشر حقونو مدافعین.

له افغانستان سره اړیکه: پر افغانستان د صلاحیت درلودل او له افغانستان سره د تعامل لنډه مخینه

د دې هر یو میکانیزم عام او خاص خطرونه او محدودیتونه د هرې برخې په پای کې وړاندې کیږي.

## قرباني محوره عدالت او لارښود اصول

قرباني محوره عدالت هغه کسان د ځواب ویلو د میکانیزمونو د پاملرنې په مرکز کې راولي، چې د بشر حقونو له سرغړونو او بین‌المللي جرایمو څخه یې تر ټولو ډېره صدمه لیدلې ده. دا چلند له یوې خوا د قربانیانو حقوقي هویت (چې د حقوقي چلندونو لپاره لکه مشارکت او د خساري جبران لپاره اړین دی) او له بل پلوه د قربانیانو د کورنیو انساني هویت په رسمیت پیژني او د هغوی پر زغم، پیاوړتیا او ژوندي تجربې تاکید کوي. د عدالت د سنتي بېلګو پر خلاف چې عمدتاً پر مرتکبینو یا دولتونو تمرکز کوي، دا چلند د قربانیانو د کورنیو او خپلوانو امنیت، واک او کرامت ته د محوري موضوع په توګه لومړیتوب ورکوي.

لارښود اصول عبارت دي له:

- **ضرر نه رسول:** هغه اصل چې د قربانیانو د کورنیو او پاتې کسانو په امنیت ساتنه او ښه ژوند باندې تمرکز کوي او دا تضمینوي چې د عدالت بهیرونه یې له نویو خطرونو سره مخامخ نه کړي او بیا ورته ضرر و نه رسیږي.
- **شعوري رضایت:** یعنې دا الزام چې شاهدی، روایتونه او شواهد د قربانیانو د پاتې کسانو په داوطلب، مخکې تر مخکې او شعوري توافق سره راټول او وکارول شي.
- **محرمیت او ساتنه:** د قربانیانو د پاتې کسانو د هویت، شهادتونو او شواهدو اړوند د معلوماتو د ساتنې دنده ده، همدا راز د ګډ اخستنې، ټاپې لګولو او ضرر رسولو د مخنیوي لپاره د قربانیانو د کورنیو د اړوندو اطلاعاتو خوندي ساتنه.
- **بې پرې والی:** دا ژمنه ده چې د عدالت بهیرونه د کومې ګټې او سیاسي لوري په خدمت کې نه وي، چې د عدالت پر بهیرونو د قربانیانو د پاتې کسانو باور او اعتبار پیاوړی شي.
- **د شخړې اړوند حساس اوسېدل:** له دې څخه خبرتیا چې د عدالت بهیرونه د ټولنې پر اړیکو اغېز درلودلای شي، او د شته درزونو یا خپګانونو د لا زیاتېدو څخه د ځان ساتلو اړتیا.
- **فعال ګډون:** دا اصل چې وایي د قربانیانو کورنۍ او پاتې کسان باید ونډه وال او شریک وګڼل شي، چې د دوی غږونه او نظریات د ځواب ویلو ستراتیژۍ رامنځته کوي، لکه د لومړیتوبونو او چلندونو اړوند تصمیمونه.
- **پرله پسې اطلاع رسونه:** د قربانیانو کورنۍ او پاتې کسان حق لري چې د عدالت د بهیرونو له پرمختګ څخه خبر وساتل شي. منظمې اطلاع رسونې شفافیت، ګډون او باور رامنځته کوي.
- **د میکانیزمونو بشپړوالی:** د دې پېژندنه چې هیڅ یو بهیر نشي کولای بشپړ عدالت رامنځه کړي او دا چې قضایي او غیرقضایي، سیمه ییزې او بین‌المللي لارې کې رامنځته شي امکان لري چې لا اغېزناکې اوسي.
- **ریښتیني توقعات:** دا منل چې عدالت ډېری مهال تدریجي دی، او قدم په قدم لاسته راوړنې او اړین اقدامات پر مخ روان دي، چې د قربانیانو د کورنیو ګډون او هیله ژوندۍ وساتي.

قرباني محوره عدالت دا تضمینوي چې افغان قربانیان او کورنۍ یې نه یواځې په حقوقي بهیرونو کې په رسمیت وپېژندل شي، بلکې د فعالو فعالانو په توګه له مجازاتو څخه معافیت سره په مبارزه کې هم پیاوړي کړای شي.



# د قضايي ځواب
# ويلو ميكانيزمونه

د ځـواب ويلـو قضايـي ميکانيزمونـه رسـمي حقوقـي بهيرونـه دي چـې کـولای شـي مرتکبيـن لـه جزايـي اړخـه ځـواب ويونکـي کـړي يـا دولتونـه پـه حقوقـي توګـه د بين‌المللـي حقونـو د سـرغړونو لـه املـه مسـئول وګڼـي. دا ميکانيزمونـه د ټاکلـو حقوقـي معيارونـو پلـې کېـدل او غالبـاً د اوږدو بهيرونـو ترسـره کـول دي، خـو کيـدای شـي چـې پايلـه يـې الزامـي احـکام اوسـي.

## بين‌المللي جزايي محکمه

بين‌المللـي جزايـي محکمـه (International Criminal Court ICC) هغـه محکمـه ده چـې «د روم اساسـنامې»-۱۹۹۸ پـر بنسـټ رامنځتـه شـوه. دې محکمـې پـه ۲۰۰۲ کال کـې پـر کار پيـل وکـړ، مرکـزي دفتـر يـې د هالنـډ پـه لاهـه کـې دی. دا مهـال ۱۲۵ غـړي هيوادونـه لـري. افغانسـتان (لـه ۲۰۰۳ کال) څخـه او فلسـطين (لـه ۲۰۱۵) کال څخه د دې محکمـې غـړي دي. لـوی ځواکونـه لکـه چيـن، روسـيه او متحـده ايـالات د دې محکمـې غـړي نـه دي. دا محکمـه پـه تـر ټولـو سـختو بين‌المللـي جرمونـو، لکـه پـر نسـل وژنـې، جنګـي جنايتونـو، بشـريت ضـد جنايتونـو او پـر ارضـي تماميـت د تعـرض د جرمونـو پـه تـور تورنـو کسـانو پـه اړه څېړنـه کـوي او تعقيبـوي يـې. د دې محکمـې واک هغـه جرايـم رانغـاړي چـې د ۲۰۰۲ کال د جـولای لـه لومـړۍ نېټـې څخـه وروسـته (د روم د اساسـنامې د لازم الاجـرا کېـدو لـه مهالـه) ترسـره شـوي وي؛ يـا د روم د ساسـنامې د غـړي دولـت پـه قلمـرو کـې، يـا د يـو غـړي دولـت د يـو تبعـه لـه خـوا ترسـر ه شـوي وي. دا محکمـه وروسـتۍ مرجـع ده؛ يعنـې يواځـې هغـه وخـت مداخلـه کـوي چـې ملـي قضايـي بنسـټونه د رسـېدګی تـوان يـا اراده و نـه لـري. دا محکمـه لـه څلـورو ارکانـو څخـه تشـکيل شـوې ده: ۱) رياسـت؛ ۲) قضايـي ديوانونـه چـې ۱۸ قاضيـان ورتـه لـه غـړو دولتونـو څخـه ټـاکل کيـږي؛ ۳) د څارنوالـۍ دفتـر؛ او ۴) د ثبـت دفتـر. دا محکمـه لـه نـږدې ۱۰۰ هيوادونـو څخـه ۹۰۰ کارکوونکـي لـري.

**محرکونـه:** پـه دې محکمـه کـې يـوه څېړنـه کيـدای شـي پـه دې طريقـو پيـل شـي ۱) د څارنوالـۍ دفتـر تـه د يـو غـړي دولـت لـه خـوا د څېړنـې د غوښـتنې راجـع کـول؛ ۲) د څارنوالـۍ دفتـر تـه د ملګـرو ملتونـو د امنيـت شـورا لـه خـوا د يـوې څېړنـې راجـع کـول؛ ۳) پـر خپـل ابتـکار (proprio motu)، د مقدماتـي شـعبې د قاضيانـو پـه جـواز.

**پايلـې:** هغـه کسـان چـې د بين‌المللـي جرايمـو پـر وړانـدې تـر ټولـو زيـات مسـئوليت لـري، پـه جزايـي توګـه يـې ځـواب ويونکـي کـوي. محکمـه کـولای شـي د جلـب احـکام صـادر کـړي، محاکمـه جـوړه کـړي او کـه تـورن محکـوم شـي، د قربانيانـو او د هغـوی د کورنيـو پـه حـق کـې د قضايـي پروسـې لـه لارې د مجرمانـو مجـازات او د خسـارې جبـران پلـې کـړي. د تشـکيل لـه مهـال څخـه د محکمـې لاسـته راوړنـې پـه لانـدې ډول دي: ۱) ۳۳ دوسـيو تـه رسـېدنه (پـه يـو شـمېر دوسـيو کـې لـه يـو څخـه زيـات تـورن کسـان)؛ ۲) د جلـب د ۶۱ احکامـو صـادرول؛ ۳) د محکمـې پـر وړانـدې د ۲۲ تورنـو کسـانو نيـول او حاضـرول؛ او ۴) د ۱۱ محکوميتونـو صـادرول. سـره لـه دې، ۳۰ تـورن کسـان لا هـم تښـتيدلي؛ اتـه تـورن کسـان مـړه شـوي او قضيـې ختمـې شـوې دي، او څلـورو تورنـو کسـانو تـه برائـت ورکـړل شـوی دی.

**تعامـل او همـکاري:** قربانيـان او مدنـي ټولنـه کـولای شـي د محکمـې د څارنوالـۍ دفتـر تـه د جرايمـو پـه مسـتندولو او اطلاعاتـو لېږلـو سـره د ۱۵ مـادې لـه مخـې ګـډون وکـړي. قربانيـان همـدا راز کـولای شـي د قانونـي اسـتازو لـه لارې پـه قضايـي بهيرونـو کـې د ګـډون لپـاره نومليکنـه وکـړي، چـې د هغـوی د غـږ د اورېـدو امـکان او د خسـارې د جبـران د دعـوو مطـرح کـول برابـروي. د مدنـي ټولنـې عدالـت غوښـتنه کـولای شـي محکمـه ځانګـړو جرمونـو تـه د لومړيتـوب ورکولـو لپـاره وهڅـوي (د بېلګـې پـه توګـه، د بشـر حقونـو مدافعينـو د جنسـيت پـر بنسـټ د ځورونـې اړونـد د څېړنـې لپـاره عدالـت غوښـتنه وکـړه)، همـدا راز کـولای شـي دولتونـه (پـه نيونـو او د قضايـي احکامـو يـا نـورو ارجاعاتـو پـه پلـي کولـو کـې) تـر فشـار لانـدې راولـي.

**بین‌المللي جزايي محکمه او افغانستان:** دا محکمه د ۲۰۲۵ کال په جولای کې د مقدماتي شعبې له خوا د طالبانو د دوو لوړ پوړو رهبرانو، هبت الله اخندزاده (د طالبانو رهبر) او عبدالحکیم حقاني (د طالبانو قاضی القضات) د جلب د احکامو له صادرولو وروسته په مستقیم ډول له افغانستان سره تړلې ده. د جلب دغه احکام د افغانو ښځو او نجونو او «نورو هغو اشخاصو چې جنسیت یې د طالبانو په تعریف له جنسیت څخه متفاوت دی» پر وړاندې «د جنسیت پر بنسټ د تعذیب» د تورونو پر بنسټ صادر شول. دا د عطف نقطه له افغانستان سره د دې محکمې د نږدې دوو لسیزو تعامل وروسته رارسېدلې. لاندې جدول په زماني ترتیب سره د افغانستان د غړیتوب له نېټې څخه تر اوسه له افغانستان سره د دې محکمې تعاملات څرګندوي.

**جدول:** له افغانستان سره تړلي د دې محکمې کلیدي ګامونه

| سال | ګام |
|---|---|
| ۲۰۰۳ | افغانستان د روم اساسنامه تصویب کړه او د محکمې غړی دولت شو. |
| ۲۰۰۶ | د څارنوالۍ دفتر د افغانستان په اړه مقدماتي ارزونه پرانستله. |
| ۲۰۱۶ | د څارنوالۍ دفتر د مقدماتي ارزونې وروستی راپور صادر کړ او و یې لیکل چې ژر به د بشپړې څېړنې د پرانستلو جواز د ۱۵مې مادې له مخې ترلاسه کړي. |
| ۲۰۱۷ | د څارنوالۍ دفتر رسماً د بشپړو څېړنو د پرانستلو د جواز صادرولو غوښتنه مقدماتي شعبې ته وسپارله. |
| ۲۰۱۸ | له قربانیانو سره لومړۍ مشوره پای ته ورسېده. له ۶۰۰۰ څخه زیاتې فرمې له یو میلیون څخه د زیاتو افغان قربانیانو او ۲۶ کلیو په استازولۍ محکمې ته ولېږل شوې. غوڅ اکثریت هغه کسان چې مشورې ورسره شوې دي د محکمې د څېړنې ملاتړ یې وکړ. |
| ۲۰۱۹ | مقدماتي شعبې د بشپړې څېړنې د پرانستلو لپاره د څارنوالۍ د دفتر غوښتنه، د وړاندیز شوې څېړنې پراختیا ته په اشارې رد کړه او نظر یې ورکړ چې د دې څېړنې پیلول «د عدالت» یا د قربانیانو په ګټه نه دی. |
| ۲۰۲۰ | د استیناف دیوان د مقدماتي شعبې تصمیم نقض کړ او د څارنوالۍ دفتر ته یې د رسمي څېړنې جواز ورکړ. |
| ۲۰۲۰ | د افغانستان دولت د روم د اساسنامې د ۱۸مې مادې له مخې د څېړنې د تعلیق غوښتنه محکمې ته وسپارله او د داخلي څېړنې لپاره یې د تیارۍ دعوه وکړه. |
| ۲۰۲۱ | د څارنوالۍ دفتر د تحقیق د بېرته پیلولو غوښتنه مطرح کړه. څارنوال کریم خان اعلان وکړ چې تمرکز به د طالبانو او داعش-خراسان څانګې پر روانو جرایمو وي. د افغانستان مخکنۍ دولت او د متحده ایالاتو ځواکونو ته منسوب جرایم به د محدودو سرچینو له امله له لومړیتوب څخه بهر وي. |
| ۲۰۲۲ | له قربانیانو سره دویمه مشوره پای ته ورسېده او ۱۶ فورمې د شاوخوا ۱۱۰۰۰ کسانو او ۱۳۰ کورنیو په استازولۍ په محکمه کې ثبت شوې. |
| ۲۰۲۲ | د تائید شویو قاضیانو له خوا د څېړنې د بېرته پیلولو لپاره د څارنوالۍ د دفتر غوښتنه. |
| ۲۰۲۵ | د څارنوالۍ دفتر د طالبانو د دوو لوړ پوړو غړو آخندزاده او حقاني د جلب غوښتنه قاضیانو ته وسپارله. دویمې مقدماتي شعبې غوښتل شوي احکام صادر کړل. |

## د بین‌المللي جزايي محکمې اړوند ګټورې سرچينې

د ICC په ويبپاڼه کې «د افغانستان وضعيت» په پاڼه کې د افغانستان د وضعيت په اړه تازه معلومات او د قربانيانو د ګډون اړوند اطلاعات موندلی شئ (يوه برخه اطلاعات په دري او پښتو دي) :
https://www.icc-cpi.int/afghanistan

افغان شنونکی، احسان قانع، محکمه له نږدې څارلې او په اړه يې «د افغانستان د شنونکو شبکې» لپاره ليکنه کړې. لينک:
https://www.afghanistan-analysts.org/en/pubauthor/ehsan-qaane/ https://rwi.lu.se/publications/international-criminal-courts-afghanistan/

«د بشري حقونو او بشرپالو حقونو لپاره د راوول او النبرګ انستيټيوټ» له خوا په ۲۰۲۴ کال کې خپره شوې مطالعه، «د بشري حقونو او بشرپالو حقونو د سرغړونو له امله ځواب ويل» تر سرليک لاندې:
https://rwi.lu.se/wp-content/uploads/01/2025/Accountability-for-Human-Rights-Violations-and-Violations-of-International-Humanitarian-Law-Digital_1.pdf

د دې راپور لومړی سمون، د ۲۰۲۴ کال په می کې خپور شوی:
https://rawadari.org/papers/avenues-for-justice-for-afghan-victims-of-human-rights-violations/

## د عدالت بین‌المللي محکمه

د عدالـت بین‌المللـي محکمـه (International Court of Justice ICJ) د ملګـرو ملتونـو اصلـي قضايـي رکـن دی. دا محکمـه د ملګـرو ملتونـو د غـړو دولتونـو تـر منـځ حقوقـي شـخړې فیصلـه کـوي او د ملګـرو ملتونـو د بنسـټونو او د هغـوی تخصصـي آژانسـونو لپـاره د بین‌المللـي حقوقـو د مسـائلو پـه اړه مشـوره ورانـدې کـوي. دا محکمـه چـې د ۱۹۴۶ کال څخـه يـې پـه کار پیـل کـړی، لـه بین‌المللـي جزایـي محکمـې څخـه متفاوتـه ده. پـه داسـې حـال کـې چـې جزایـي بین‌المللـي محکمـه افـراد د بین‌المللـي جرایـو لـه املـه تعقیبـوي، دا محکمـه دولتونـه د بین‌المللـي حقوقـو د نقـض لـه املـه، لکـه د حقـوق بشـري معاهـدو، د بېلګـې پـه توګـه د ښـځو پـر وړانـدې د تبعیـض د ټولـو بڼـو لـه منځـه وړلـو کنوانسـیون (سـیډا) او د شـکنجې او نـورو بـې رحمانـه، غیرانسـاني او سـپکوونکو چلندونـو د مخنیـوي کنوانسـیون (کـټ) لـه مخـې ځـواب ویونکـي کـوي.

**محرکونـه:** یواځـې دولتونـه کـولای شـي پـه دې محکمـه کـې دعـوه اقامـه کـړي، پـه دې شـرط چـې دواړو دولتونـو د دې محکمـې صلاحیـت منلـی وي. معمـولاً هغـه وخـت چـې دعـوه مطـرح کیـږي د ملګـرو ملتونـو یـو غـړی دولـت بـل غـړی دولـت د یـوې معاهـدې یـا بین‌المللـي ژمنتیـا لـه املـه تورنـوي. د بېلګـې پـه توګـه، دا محکمـه کـولای شـي د سـیډا کنوانسـیون لـه مخـې د افغانسـتان پـر وړانـدې شـکایتونو تـه ورسـیږي. افغانسـتان دا کنوانسـیون (چې د دې محکمـې پـر وړانـدې د حـل بنـد لـري) بـې لـه شـرطه منلـی دی. د بشـر حقونـو پـه برخـه کـې، د حقـوق بشـري معاهـدو د غـړو دولتونـو تـر منـځ د متضـررو ډلـو پـه اسـتازولۍ د دې محکمـې پـر وړانـدې د دعـوو د مطـرح کولـو لپـاره مـخ پـر زیاتېـدو لېوالتیـا لیـدل کیـږي. د بېلګـې پـه توګـه، د میانمـار پـر وړانـدې د روهینګیـا د نسـل وژنـې اړونـد د ګامبیـا دعـوه، یـا د اسـرائیلو پـر وړانـدې د فلسـطین اړونـد د «نسـل وژنـې کنوانسـیون» د نقـض لـه املـه د جنوبـي افریقـا دعـوه.

**پایلـې:** دا محکمـه کـولای شـي د بین‌المللـي حقوقـو د سـرغړونو پـه پـای تـه رسـولو او کلـه هـم د خسـارې د جبـران (د بلګـې پـه توګـه د غرامـت ورکولـو او بیـا نـه تکرارولـو د تضمینونـو) لپـاره پـر سـرغړوونکي دولـت حکـم وکـړي. دا محکمـه کـولای شـي لـه وروسـتي حکـم صادرولـو مخکـې د متضررینـو د حقونـو د ملاتـړ لپـاره احتیاطـي احـکام صـادر کـړي. د محکمـې تصمیمونـه الزامـي دي او د نـه اجـرا کېـدو پـه صـورت کـې د ملګـرو ملتونـو امنیـت شـورا تـه راجـع کیـدای شـي. پـه ټولـه کـې، دا محکمـه د پـام وړ سیاسـي او قضایـي واک لـري او ډېـری مهـال نـورې محکمـې د دې محکمـې پـه رویـه بانـدې اسـتناد کـوي.

**تعامـل او همـکاري:** مدنـي ټولنـه پخپلـه نشـي کـولای د دې محکمـې پـر وړان دې دعـوه طرحـه کـړي؛ خـو مدنـي ټولنـه کـولای شـي یـو همغـړی دولـت د دعـوې د طرحـه کولـو لپـاره وهڅـوي. دا چـاره عدالـت غوښـتني او د دعـوې طرحـه کولـو تـه د لېـوال دولـت لپـاره مسـتنداتو وړانـدې کولـو تـه اړتیـا لـري. همـدا راز، مدنـي ټولنـه کـولای شـي تخصـص او شـواهد د هغـه دولـت حقوقـي ډلـې تـه وړانـدې کـړي چـې دعـوه پـر غـاړه اخلـي او د رسـنیو او عمومـي افـکارو د پـام جلبولـو لپـاره د دې محکمـې لـه بهیرونـو څخـه ګټـه پورتـه کـړي. سـربېره پـر دې، کـولای شـي پـه لاهـه کـې د ښـکاره اسـتماعیه غونـډو، د عدالـت د بین‌المللـي محکمـې پـه مقـر کـې حضـور ولـري یـا د محکمـې د احکامـو د پلـي کولـو پـه موخـه د سیاسـي فشـار د سـاتلو لپـاره عدالـت غوښـتنه وکـړي.

**د عدالـت بین‌المللـي محکمـه او افغانسـتان:** افغانسـتان د دې محکمـې پـر وړانـدې د اخـتلاف او هـواري د بنـد د درلودونکـو څـو معاهـدو غـړی دی، لکـه سـیډا کنوانسـیون. د افغانسـتان مدنـي ټولنـې لـه دولتونـو غوښـتي چـې د طالبانـو لـه خـوا پـه منظمـه توګـه د ښـځو د حقونـو د سـرغړونو لـه املـه، د افغانسـتان پـر وړانـدې د سـیډا کنوانسـیون تـر چتـر لانـدې دوسـیه جـوړه کـړي. د ۲۰۲۴ کال پـه سـپتامبر کـې اسـترالیا، کانـاډا، آلمـان او هالنـډ

هیوادونـو رسـماً د طالبانـو د ښـځو څېونکـو سیاسـتونو لـه املـه د افغانسـتان پـر وړانـدې د دعـوې د بهیـر پیلولـو اعلان وکـړ او لـه ۲۰ زیاتـو نـورو دولتونـو هـم دې نوښـت سـره خپـل ملاتـړ او پیوسـتون څرګنـد کـړ.
لانـدې چـارټ د سـیډا کنوانسـیون د ۲۹مـې مـادې لـه مخـې د اخـتلاف د حـل پروسـه ښـیي: دا پروسـه پـه خبـرو اتـرو پیلیـږي، وروسـته د حکمیـت لپـاره هڅـه کیـږي، او بالاخـره کـه دواړه هڅـې خبـرې اتـرې او حکمیـت نـاکام پاتـې شـي، موضـوع د عدالـت بین‌المللـي محکمـې تـه راجـع کیـږي.

| ۱ | ۲ | ۳ | ٤ |
|---|---|---|---|
| محرکونه | پایلې | تعامل او همکاري | د عدالت بین‌المللي محکمه او افغانستان |

## د عدالت د بین‌المللي محکمې اړوند ګټوري سرچینې

د عدالت د بین‌المللي محکمې ښوونیزه رساله:
https://www.icj-cij.org/sites/default/files/documents/handbook-of-the-court-en.pdf
د افغانـو ښـځو او نجونـو د حقونـو د نقـض لـه املـه د عدالـت د بین‌المللـي محکمـې پـر وړانـدې د دعـوې طرحـه کـول (انګلیسـي، دري، پښـتو):
https://rawadari.org/papers/bringing-a-case-before-the-international-court-of-justice-/for-the-rights-of-afghan-women-and-girls
د عدالت د بین‌المللي محکمې د نظریاتو ټولګه او احکام:
https://www.un-ilibrary.org/content/series/24140732
د اسرائیلو پر وړاندې د جنوبي افریقا تورنلیک:
https://www.icj-cij.org/case/192
د میانمار پر وړاندې د ګامبیا تورنلیک:
https://www.icj-cij.org/case/178
د عرب سوریې د جمهوریت پر وړاندې د کاناډا او هالنډ ګډه تورن لیک:
https://www.icj-cij.org/case/188

## نړیوال قضایی صلاحیت

نړیـوال قضایـی صلاحیـت Universal Jurisdiction یـو حقوقـي اصـل دی چـې هـر دولـت تـه اجـازه ورکـوي وګـړي د سـختو بین‌المللـي جرمونـو لـه املـه تعقیـب او محاکمـه کـړي، دې تـه لـه کتـو پرتـه چـې جـرم چېـرې ترسـره شـوی، یـا مرتکـب یـا قربانـي د کـوم هیـواد تبعـه دی. دا اصـل لـه دې مفکـورې څخـه سـرچینه اخلـي چـې د امنیـت اړونـد یـو شـمېر جرمونـه د بین‌المللـي ټولنـې بنسـټي ګټـې پـه مشـترکه توګـه اغېزمنـوي. پـه عمـل کـې د هیوادونـو ډېـری قوانیـن ملـي محکمـو تـه اجـازه ورکـوي چـې د نسـل وژنـې، د بشـریت ضـد جنایـت، جنګـي جنایـت او شـکنجې اړونـد جرمونـه چـې لـه قلمـرو څخـه یـې بهـر ترسـره شـوي دي، تعقیـب کـړي. پـه تېـرو درې لسـیزو کـې لـه ۲۰ زیاتـو هیوادونـو د څېړنـو د پیلولـو او تعقیبولـو لپـاره خپـل واکونـه کارولـي دي. د بېلګـې پـه توګـه، پـه ۲۰۲۱ کال کـې د المـان یـوې محکمـې «د (داعـش) د عـراق او شـام اسلامـي دولـت» یـو عراقـی غـړی چـې پـه المـان کـې یـې ژونـد کاوه، د ایزدیانـو د نسـل وژنـې، بشـریت ضـد جنایـت او جنګـي جنایـت د جـرم پـه ترسـره کلـو مجـرم وپېژانـد. نـه تـورن او نـه قربانیـان المانیـان وُ، او جـرم هـم د المـان پـه قلمـرو کـې نـه و ترسـره شـوی.

**محرکونـه:** تـر نړیـوال قضایـی صلاحیتلانـدې یـوه دوسـیه هغـه مهـال طرحـه کېـدلای شـي چـې ملـي چارواکـي، لکـه پولیـس یـا څارنـوالان پـه یـو هیـواد کـې تصمیـم ونیسـي یـو کـس د بین‌المللـي جرمونـو څېړنـه وکـړي او هغـه تعقیـب کـړي. ځانګـړي محرکونـه پـه هیوادونـو کـې فـرق سـره لـري: یـو شـمېر دولتونـه پـه خپـل قلمـرو کـې د تـورن حضـور لازم ګڼـي (پـه داسـې حـال کـې چـې د ارجنټایـن پـه څېـر هیوادونـه دغـه شـرط نـه لـري)، یو شـمېر د قربانیانـو لـه خـوا د شـکایت ثبتـول یـا د لـوی څارنـوال تصویـب لازم بولـي. ډېـری مهـال د قربانیانـو شـکایتونه یـا د غیردولتـي بنسـټونو راپورونـه څارنـوالان اقـدام کولـو تـه اړباسـي.

**پایلې:** یـوه جزایـي څېړنـه کـولای شـي پـر محکومیتونـو او د حبـس پـه مجازاتـو تمـام شـي. د واک د پلـي کوونکـي هیـواد حقوقـي چـوکاټ تـه پـه کتـو، ممکـن قربانیانـو تـه د خسـارې پـر جبـران حکـم وشـي. څېړنـه هـم کلـه پـه محاکمـې پـای تـه نـه رسـیږي، خـو کیـدای شـي داسـې شـواهد ښـکاره کـړي چـې د حقیقـت روښـانه کولـو سـره مرسـته وکـړي. د یادونـې وړ ده چـې پـه افغانسـتان کـې د ترسـره شـویو جرمونـو اړونـد د نړیـوال قضایـي صلاحیتلرونکـې څـو دوسـیې ترسـره شـوې دي. (د بېلګـې پـه توګـه راتلونکـي جـدول تـه مراجعـه وکـړئ).

**تعامـل او همکاري:**قربانیـان او غیردولتـي بنسـټونه کـولای شـي د نړیـوال قضایـی صلاحیتپـه دوسـیو کـې مهـم نقـش ولوبـوي. لکـه، هغـوی کـولای شـي هغـو هیوادونـو تـه چـې د نړیـوال قضایـی صلاحیتقوانیـن لـري د مقیمـو یـا مسـافرو مرتکبانـو پـه پېژندنـه کـې، او هـم د شـکایت پـه ثبتولـو او لـه سـیمه ییـزو مقاماتـو سـره د شـواهدو پـه شـریکولو کـې اغېزنـاک تمـام شـي. د تجربـه کارو بین‌المللـي وکیلانـو یـا هغـو سـازمانونو کارول چـې دوسـیې برابـروي او لـه څارنوالانـو سـره یـې همغـږي کـوي، د دوسـیې د پرمختـګ چانـس ډېـر زیاتـوي. د قربانیانـو کورنـۍ او شـاهدان هـم کـولای شـي د محاکمـو د جوړېـدو پـر مهـال شـاهدي ورکـړي. د بېلګـې پـه توګـه، پـه هالنـډ کـې د قربانیانـو کورنیـو هغـه کسـان چـې د ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسـیزې پـه پـای کـې یـې پـه افغانسـتان کـې جنګـي جنایتونـه ترسـره کـړي وُ، پـه ګوتـه کـړل، راپـور یـې کـړل او پـر هغـوی یـې شـاهدي ورکـړه؛ دا هڅـې پـه څېړنـو او وروسـته پـه محاکمـو تمامـې شـوې.

**نړیـوال قضایـی صلاحیـت او افغانسـتان:** لانـدې جـدول د افغانسـتان اړونـد د نړیـوال صلاحیـت لـه دوسـیو څخـه څـو بېلګـې وړانـدې کـوي.

| | |
|---|---|
| حسام‌الدین حسام | د نظامي استخباراتو (MIS) خاد رئیس او د افغانستان د دولتي امنیت د وزارت معین (۱۹۸۳ تر ۱۹۹۰).<br>په هالنډ کې په افغانستان کې د نیول شویو کسانو د ربړولو په تور تر تعقیب لاندې راغی.<br>په ۲۰۰۵ کې په ۱۲ کاله بند محکوم او په ۲۰۱۵ کې خوشې شو. |
| حبیب‌الله جلال‌زوی | د (MIS) د پلټنو او څېړنو د ریاست رئیس، له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۹ او د حسام الدین حسام تر لاس لاندې مامور له ۱۹۷۳ څخه تر ۱۹۸۹.<br>په هالنډ کې له حسام الدین حسام سره، د شکنجې د ترسره کولو له امله تر تعقیب لاندې راغی.<br>په ۲۰۰۵ کال کې په ۹ کاله حبس محکوم شو. |
| عبدالله فقیرزاده | د پولیسو افسر او په MIS خاد کې د حسام الدین حسام مرستیال له ۱۹۷۹ څخه تر ۱۹۸۹.<br>په هالنډ کې په افغانستان کې د نیول شویو کسانو په ربړولو کې د لاس لرلو له امله تر تعقیب لاندې راغی.<br>په ۲۰۰۷ کال کې د ناکافي شواهدو له امله تبرئه او خوشې شو. |
| امان‌الله عثمان | د افغانستان د اطلاعاتو اداري (اگسا) رئیس، د دولتي اطلاعاتي خدماتو (خاد) څخه مخکې استخباراتي.<br>په افغانستان کې د زرگونو بندیانو په ربړولو، اعدامولو او تري تم کولو کې په لاس درلودلو تورن.<br>په ۲۰۱۲ کال کې د هالنډ له طرفه تر پلان شویو نیولو او تعقیب مخکې ومړ؛ سره له دې، څېړنو د تري تم کولو د ۵۰۰۰ قربانیانو «د مرگ فهرست» افشا کړ. |
| صادق عالمیار | له ۱۹۷۸ څخه تر ۱۹۷۹ پورې د افغانستان د اردو د کمانډو ۴۴۴ کنډک/واحد قومندان.<br>د «کراله» په وژنه کې په لاس درلودلو تورن (۱۹۷۹) چې پکې سلگونه تنه ووژل شول او په ډله ییزو قبرونو کې خښ شول.<br>په ۲۰۱۷ کال کې د هالنډ له خوا د ناکافي شواهدو له امله تبرئه او خوشې شو. |
| عبدالرزاق عریف | د افغانستان د څرخي پله زندان لوړ پوړی چارواکی (۱۹۸۲-۱۹۸۷)، او عمومي رئیس.<br>د ۲۰۱۹ کال په نوامبر کې په هالنډ کې د شکنجه کولو او جنگي جنایت په جرم ونیول شو.<br>یوې ابتدائیه محکمې د ۲۰۲۲ په اپرېل کې هغه په ۱۲ کاله بند محکوم کړ، خو د استیناف محکمې د ۲۰۲۴ کال په جون کې هغه ته برائت ورکړ. څارنوالۍ د سترې محکمې پر وړاندې د بیا کتنې وړاندیز وکړ؛ سره له دې هغه د ۲۰۲۵ کال په مارچ میاشت کې ومړ او د محکمې بهیر له پای ته رسېدو مخکې دوسیه وتړل شوه. |

### د نړیوال قضایی صلاحیت اړوند ګټوري سرچینې:

د نړیوال صلاحیت اړوند ښوونیزه رساله: د بین‌المللي جرمونو له امله د طالبانو ځواب ویونکي کول:
https://www.monash.edu/__data/assets/pdf_file/3800859/0006/Handbookon-Universal-Jurisdiction-Ham-Diley-Campaign.pdf

د نړیوال صلاحیت ابزار ټرایل انټرنیشنل:

https://trialinternational.org/universal-jurisdictiontools/

د نړیوال صلاحیت لرونکو قوانینو درلودونکو هیوادونو د پېژندنې ابزار، د عدالت لپاره د کلونې بنسټ:

https://justicebeyondborders.com/

په هالنډ کې د افغانستان د جنګي مجرمینو محکمې:
https://www.afghanistananalysts.org/en/reports/rights-freedom/afghan-war-crimes-trials-in-thenetherlands-who-are-the-suspects-and-what-have-been-the-outcomes/

په انګلستان کې د زرداد فریادي محاکمه:
https://www.afghanistan-analysts.org/en/ reports/rights-freedom/afghan-war-criminal-zardad-freed-no-protectionfor-witnesses/

## د بهرنيو ځواکونو او نړيوالو شرکتونو مکلفيتونه

لـه قلمـرو ور هاخـوا صلاحيـت «د فعـال شـخصيت اصـل» پـر بنسـټ يـو دولـت تـه اجـازه ورکـوي چـې خپـل خلـک، د نظامـي ځواکونـو غـړي يـا خپـل شـرکتونه، او هـم يـې پـه قلمـرو کـې مېشـت اشـخاص، د حقـوق بشـري سـرغړونو د هغـو جرايمـو لـه امله تعقيب او محاکمـه کـړي، چـې د هغـه دولـت لـه قلمـرو څخـه بهـر ترسـره شـوي دي. د «نړيـوال صلاحيـت» برعکـس چـې د جـرم پـه ماهيـت پـورې تړلـی دی، دا اصـل د مرتکـب او تعقيبوونکـي دولـت تـر منـځ پـر شـخصي تـړاو ولاړ دی؛ د همـدې لـه مخـې اصلـي بين‌المللـي جرايـم او هغـه جرمونـه چـې لـه هغـې ښـکته دي، تـر پوښـښ لانـدې راولـي. دا صلاحيـت د داخلـي حقوقـو لـه لارې پلـی کيـږي او د ځينـو هوکـړو لـه لـورې، لکـه د شـکنجې د مخنيـوي کنوانسـيون او د تروريـزم د مالـي تمويـل د مجازاتـو لپـاره بين‌المللـي کنوانسـيون لـه خـوا يـې ملاتـړ کيـږي، دغـه معاهـدې دولتونـه اړباسـي چـې مرتکبـان يـا محاکمـه کـړي يـا يـې مسـترد کـړي. پـه افغانسـتان کـې، دا اصـل د ځوارخيـزو/دوه اړخيـزو ځواکونـو د وضعيـت د هوکړه‌ليکونـو لـه لارې تائيديـده، چـې د ۲۰۰۱ څخـه تـر ۲۰۲۱ کال پـورې يـې پـه افغانسـتان کـې نظامـي ځواکونـه درلـودل.

**محرکونـه:** بهيرونـه معمـولاً هغـه وخـت پيليـږي چـې پـه يـو هيـواد کـې ملکـي يـا نظامـي څارنـوالان پـه بهـر کـې د خپلـو هيوادوالـو د ترسـره کړيـو غيرقانونـي چلندونـو څېړنـه پيلـوي. مشـخص محرکونـه د هيوادونـو تـر منـځ متفـاوت دي. پـه عمـل کـې، د قربانيانـو يـا غيردولتـي بنسـټونو شـکايتونه، د نظامـي پوليسـو لـه خـوا ارجاعـات، پارلمانـي افشـاګرۍ او رسـنيزې څېړنـې کيـدای شـي د دې بهيـر د پيلېـدو محرکونـه اوسـي.

**پايلـې:** کيـدای شـي پـه ملـي محاکمـو کـې پـر بشـپړ جزايـي ځـواب ويلـو پـای تـه ورسـيږي. چېـرې چـې جزايـي معيارونـه رامنځتـه نشـي، بيـا هـم ممکنـه ده پـه اداري يـا نـورو حقوقـي يـا انضباطـي تدابيـرو، او يـا هـم پـه عمومـي راپورونـو ورکولـو تمـام شـي، چـې تېروتنـه ترسـره کـول پـه رسـميت پيژنـي، او تاريخـي سـوابق خونـدي کـوي. هغـه دولتونـه چـې دا صلاحيـت پلـی کـوي، کـولای شـي د خپلـو نظامـي ځواکونـو د غـړو همـکاري الزامـي کـړي او رسـمي سـوابقو او محرمـو اسـنادو تـه لاسرسـی پيـدا کـړي. پـه هغـو مـواردو کـې چـې تـورن کسـان يـې لـه پولـو بهـر مېشـت وي، دولـت کـولای شـي لـه دربيـم دولـت څخـه د هغـوی د نيولـو لپـاره د همـکارۍ غوښـتنه وکـړي. پـه ځينـو قضايـي حـوزو کـې د اړونـدو حقوقـي دعـوو لـه لارې د قربانيانـو د کورنيـو لپـاره د خسـارې جبـران د لاسرسـي وړ دی.

**تعامـل او همـکاري:** د قربانيانـو کورنـی او پاتـې کسـان، او د مدنـي ټولنـې سـازمانونه کـولای شـي لـه دې لارې څخـه د هغـو دولتونـو اړونـدو چارواکـو تـه جنايـي دوسـيې وسـپاري چـې افغانسـتان تـه يـې ځواکونـه ليږلـي، او د جنګـي جرمونـو لـه شـعبو، نظامـي پوليسـو، عمومـي څارنوالانـو او قاضيانـو څخـه ګټـه واخلـي. د منظمـو دوسـيو وړانـدې کـول چـې د پېښـې جزئيـات، د نظامـي واحدونـو اطلاعـات، د مـرګ ژوبلـې فهرسـتونه، طبـي سـوابق، د سـپوږمکۍ تصويرونـه او د شـاهدانو څرګندونـې راونغـاړي، دېـره مرسـته کـولای شـي. کـه ملـي محکمـې د دې قضيـو پـه تعقيـب کـې اغېزناکـې نـه وي، کيـدای شـي سـيمه ييـزو محکمـو، لکـه د بشـر حقونـو اروپايـي محکمـې تـه وړانـدې شـي (د بېلګـې پـه توګـه، «د کنـدوز د هوايـي بريـد» دوسيه چـې جزيـات يـې پـه لانـدې جـدول کـې راغلـي دي).

**لـه قلمـرو ور هاخـوا صلاحيـت او افغانسـتان:** څـو هيوادونـو، لکـه د امريـکا متحـده ايالاتـو او د شـمالي اتلانتيـک تـړون سـازمان (ناټـو) غړيـو هيوادونـو لـه ۲۰۰۱ څخـه تـر ۲۰۲۱ پـورې افغانسـتان تـه ځواکونـه ليږلـي ؤ. ادعـا کيـږي چـې پـه دې مـوده کـې دغـه ځواکونـه د بېلابېلـو حقـوق بشـري سـرغړونو، جنګـي جنايتونـو او د بشـريت ضـد جنايتونـو مرتکـب ګرځېدلـي. د افغانسـتان مخکنـي دولـت لـه ځواکونـو ليږونکـو هيوادونـو سـره د ځواکونـو د وضعيـت هوکـړه (SOFAs) لاسـليک کـړې او موافقـه شـوې چـې کـه د دې دولتونـو ملکـي او نظامـي کارکوونکـي د افغانسـتان پـه خـاوره کـې هـر جـرم ترسـره کـړي، د افغانسـتان يـا دربيـم لـوري لـه خـوا بـه څېړنـه نـه ترسـره کيـږي، بلکـې د خپلـو دولتونـو لـه خـوا بـه ورتـه رسـيدګي کيـږي. پـر همـدې بنسـټ، دا اصـل لـه بين‌المللـي

حقوقـو، دوه اړخيـزو هوکـړو او داخلـي قوانينـو څخـه رامنځتـه شـوی، او کيـدای شـي د افغانـو قربانيانـو د کورنيـو او د مدنـي ټولنـې د بنسـټونو لپـاره پيـاوړې وسـيله اوسـي، چـې عدالـت پـه داخلـي محکمـو او هـم د علنـي څېړنـو لـه لارې تعقيـب کـړي.

لانـدې جـدول د هغـو قضيـو څـو بېلگـې وړانـدې کـوي، چـې پکـې د فعـال شـخصيت د اصـل پـر بنسـټ لـه قلمـرو ور هاخـوا صلاحيـت کارېدلـی دی.

| هيواد | دوسيه/څېړنه | لنډه تشريح |
|---|---|---|
| آلمان | د کندوز د هوايي بريد دوسيه | د ۲۰۰۹ کال پـه سـپتامبر کـې يـو آلمانـي ډگـروال پـه کنـدوز ولايـت کـې پـر دوو تېښـتول شـويو ټانکرونـو د بريـد امـر صـادر کـړ چـې د ملکـي خلکـو پـه گـډون د ډېـرې مـرگ ژوبلـې لامـل وگرځېـد. د آلمـان څارنوالانـو احتمالـي جزايـي تورونـه د داخلـي حقونـو لـه مخـې وارزول، خـو د قومانـدان لـه تعقيـب څخـه يـې ډډه وکـړه او اسـتدلال يـې وکـړ چـې هغـه د ملکـي خلکو د وژلـو اراده نـه درلـوده. د دوو تنـو قربانيانـو پلار عبدالحنـان پـه المـان کـې د ټولـو حقوقـي ميکانيزمونـو پـه ترسـره کولـو، د بشـر حقونـو پـه اروپايـي محکمـه کـې دعـوه وکـړه او ادعـا يـې وکـړه چـې د بشـر حقونـو د اروپايـي کنوانسـيون د ۲مـې مـادې لـه مخـې آلمـان هيـواد د ژونـد د سـلبولو اړونـد د اغېزناکـې څېړنـې لپـاره خپلـه دنـده نـه ده ترسـره کـړې. د ۲۰۲۱ کال پـه فبـروري کـې د دې اروپايـي محکمـې تـر ټولـو لـوړ ديـوان اعلان وکـړ چـې المـان د دې ځـواک درلـود (پـر مېشـتو ځواکونـو کنټـرول او پـه المـان کـې د ننـه جزايـي صلاحيـت تـه پـه کتـو) او پـر همـدې بنسـټ يـې دنـده درلـوده چـې شـکلي څېړنـه ترسـره کـړي. خـو بالاخـره دې محکمـې دې قضيـې تـه د المـان پـه داخلـي رسـيدگی کـې کومـه سـرغړونه و نـه موندلـه او څېړنـې د بشـر حقونـو د اروپايـي کنوانسـيون لـه الزاماتـو سـره مطابقـت درلـود. دا حکـم مهمـه مخينـه ده چـې شـيي د ځواکونـو لېږنکـي هيوادونـه د دوی لـه هيـواده بهـر د مرگونـو پېښـو لپـاره لـه قلمـرو څخـه بهـر د څېړنـې ژمنتيـا لـري. جزئيـات:<br>https://hudoc.echr.coe.int/eng#{22%item id22%166884-22001%]:22%]} |
| استراليا | د افغانستان څېړنې (د بررتون راپور) | د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۰ کلونـو تـر منـځ د اسـتراليا د دفاعـي ځواکونـو سـر مفتـش پـه افغانسـتان کـې د دې هيـواد د ځانگـړو ځواکونـو د چلنـد پـه اړه يـوه څېړنـه ترسـره کـړه او د افغانسـتان د جگـړې پـه بهيـر کـې يـې د ۳۹ غيرقانونـي وژنـو اړونـد د منلـو وړ اطلاعـات ورکـړل. د اسـټراليا حکومـت وروسـته پـه ۲۰۲۰ کال کـې د اسـټراليا لـه فدرالـي پوليسـو سـره يوځـای د پلټنـې ځانگـړی دفتـر رامنځتـه کـړ. د ۲۰۲۳ کال پـه مـارچ کـې د ځانگـړو هوايـي خدماتـو يـو مخکنـی سـرتېری، Oliver Schulz د ۲۰۲۱ کال پـه ارزگان ولايـت کـې د وژنـې لـه املـه د جنگـي جنايـت پـه تـور ونيـو او تـورن شـو. دا محکوميـت د دې څېړنـې لومـړی پايلـه ده. د څېړنـې بهيـر لـه نـورو دوسـيو سـره دوام لـري.. جزيـات يـې د ځانگـړي پلټونکـي دفتـر پـه ويبپاڼـه کـې:<br>https://www.osi.gov.au/ |

| هیواد | دوسیه/څېړنه | لنډه تشریح |
|---|---|---|
| هالنډ | د  چوره دوسیه | د (ارزګان) پـه چـوره کـې پـه ۲۰۰۷ کال کـې د جګـړې پـر مهـال، هالنـډي ځواکونـو (د اسـتوګنې ځـای) یـوه کلا بمارکـړه. د بمبـار د قربانیانـو پاتـې کسـانو د هالنـډ دولـت پـر وړانـدې دعـوه اقامـه کـړه. د ۲۰۲۲ کال د نومبـر پـر ۲۳مـه ابتدائیـه محکمـې حکـم وکـړ چـې د بین‌المللـي بشـرپالو حقونـو لـه مخـې دا بمبـار لـه نظامـي موخـو څخـه د ملکـي موخـو د بېلولـو د قاعـدې سـرغړوونکی و او د هالنـډ دولـت یـې د مدنـي مسـئولیت لـه مخـې مسـئول وګرځـاوه. د ۲۰۲۳ کال د فبـروري پـر ۳مـه د هالنـډ دولـت اعلان وکـړ چـې د اسـتیناف غوښـتنه نـه کـوي او شـکایت کوونکـو تـه غرامـت ورکـوي. د محکمـې حکـم دلتـه ووینـئ: https://uitspraken.rechtspraak.nl/details?id=ECLI:NL:RBDHA:2022:12424 |
| متحده ایالات | د سنا د شکنجې راپور او محاکمې | پـه ۲۰۱۴ کـې د امریـکا د سـنا د اسـتخباراتو کمېټـې د سـي آی ای سـازمان د نیولـو او پوښـتنو ګروېږنـو د پروګـرام د مطالعـې علنـي لنډیـز نشـر کـړ چـې نـاوړه چلندونـه، لکـه د افغانسـتان لـه شـخړو سـره د اړونـدو افـرادو پـر وړانـدې چلندونـه یـې مسـتند کـړل او دې نـاوړه چلندونـو تـه د نـه رسـېدو تشـې یـې پـه ګوتـه کـړې. موندنـې یـې علنـي دي او د افغانسـتان پـه اړه د بین‌المللـي جزایـي محکمـې د څارنوالانـو د څېړنـې یـوه اصلـي سـرچینه وګرځېـده. د متحـده ایالاتـو د نظامـي عدالـت د متحدالشـکل قانـون لـه مخـې، د امریـکا د وسـله والـو ځواکونـو غـړي کـولای شـي د ارتکابـي جرائمو لـه املـه پـه بهـر کـې محاکمـه شـي؛ د بېلګـې پـه توګـه، خردضابـط رابـرټ بیلـز پـه کندهـار کـې پـه ۲۰۱۲ کال کـې د ۱۶ ملکـي وګـړو پـر وژنـه اعتـراف وکـړ او د مشـروطې آزادۍ لـه امـکان پرتـه پـه عمـري بنـد محکـوم شـو. سـربېره پـر دې، لـه قلمـرو ور هاخـوا د نظامــي قضایـي صلاحیـت قانـون، د هیـواد لـه قلمـرو څخـه بهـر پـر یـو شـمېر ملکـي قراردادیانـو د امریـکا جزایـي صلاحیـت پراخـوي. پـه ۲۰۱۱ کـې د بلـک واټـر شـرکت اړوند دوه قراردادیـان Justice Cannon او Corpus Christi پـه کابـل کـې پـه ۲۰۰۹ کال کـې پـه ډزو کـې د دوو ملکـي کسـانو د وژنـو لـه املـه پـه غیرعمـدي قتـل بانـدې محکـوم شـول. د راپـور لنډیـز دلتـه وګـورئ:<br><br>https://www.intelligence.senate.gov/wpcontent/uploads/08/2024/sites-default-files-documents-crpt-113srpt288.pdf |

**د نورو اړوندو لارو چارو ارزونه (په متحده ایالاتو کې د شرکتونو او مدني دعوو ځواب ویل)**

یــو شــمېر داخلــي حقوقــي نظامونــه نــه یواځــې مرتکــب اشــخاص بلکــې شــرکتونه هــم لــه جزایــي نظــره مسـئول ګڼـي. پــه فرانســه کــې، ســترې محکمــې د Lafarge SA شــرکت پــر وړانــدې پــه ســوریه کــې پــه عملیاتــو کــې پــه بشـریت ضـد جنایـت کـې د ملتیـا تـور تائیـد کـړ. پـه سـویډن کـې د Lundin Energy شـرکت دوه مدیـران، د مدیـره پلاوي رئیـس او مخکنـی مدیـر د سـوډان پـه جنـوب کـې ۲۰۰۳-۱۹۹۹ پـه جنګـي جنایتونـو کـې د ملتیـا او ګـډون لـه املـه تـر جزایـي پلټنـې لانـدې ونیـول. محاکمـه د ۲۰۲۳ کال پـه سـپتامبر کـې پـه اسـتکهلم کـې پیـل شـوه. دا بېلګـې ښـیي چـې د لانـدې جـدي سـرغړونو لـه املـه د شـرکتونو ځـواب ویـل د ملـي قوانینـو لـه مخـې ممکـن دي، او د افغانسـتان اړونـد، پـه ځانګـړي ډول د خصوصـي نظامـي قراردادیانـو اړونـد داسـې مخینـه موجـوده وه.

د بهرنیـو د مدنـي دعـوو د قانـون (Alien Tort Statute – ATS) لـه مخـې، د امریـکا محاکـم پـه تاریخـي توګـه د بهرنیـو قربانیانـو لپـاره مجـرا رامنځتـه کـړې، چـې لـه امریـکا څخـه بهـر پېښـې شـوې حقـوق بشـري سـرغړونې تعقیـب کـړي. تقریبـاً ۲۵ دوسـیې پـه مالـي احکامـو تمامـې شـوې دي، چـې د بین‌المللـي حقوقـو د سـرغړونو لـه حقوقـي پېژندنـې سـره یـې مرسـته وکـړه. سـره لـه دې، د سـترې محکمـې وروسـتیو پرېکـړو (لکـه Kiobel، Jesner او Nestle) د دې قانـون لـه قلمـرو څخـه بهـر عمـل سـخت محـدود کـړی او د شـرکتونو پـر وړانـدې لاري یـې کمـې کـړې دي. بلـه لاره، د شـکنجې د قربانیانـو د ملاتـړ قانـون دی چـې لا هـم پـه امریـکا کـې د دعـوې د اقامـه کولـو اجـازه ورکـوي، خـو یواځـې د حقیقـي اشـخاصو پـر وړانـدې، نـه د شـرکتونو پـر وړانـدې.

**له قلمرو بهر د صلاحیت په اړه ګټورې سرچینې (د فعال شخصیت اصل):**

د بین‌المللي حقوقو د مکس پلانک په دایرةالمعارفونو کې له قلمرو څخه بهر د صلاحیت تعریف:
https://opil.ouplaw.com/display/10.1093/ law:epil/9780199231690/law-
-9780199231690e1040

د بررټون راپور او د استرالیا د دفاع وزیر بښنه غوښتل:

https://www. defence.gov.au/about/reviews-inquiries/afghanistan-inquiry

د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې په اړه د یوناما راپورونه:

https://unama.unmissions.org/reportsprotection-civilians-armed-conflict

د افغانستان- ناټو د ځواکونو د وضعیت هوکړه لیک ۲۰۱۴:
https://www.nato.int/cps/en/natohq/ official_texts_116072.htm?selectedLocale=en

## د قضايي ځواب ويلو د ميکانيزمونو محدوديتونه

قضايـــي ميکانيزمونـــه د عدالت حياتي مســـيرونه برابـــروي، خو په عين حال کې داســـې خنډونـــه هم په مخ کې لري چې کولای شـــي ځواب ويلو ته لاسرســـی ســـخت کړي. د دې ســـختيو په رســـميت پېژنـــدل له فعالانو او مدني ټولنې ســـره مرســـته کـــوي چې ممکـــن انتخابونه وټاکـــي، د قربانيانـــو د کورنيو او پاتې کســـانو تمې مديريت کړي او داســـې ســـتراتيژۍ جـــوړې کړي، چې سياســـي، حقوقي او علمـــي ننګونې په نظر کې نيســـي.

## په ټولو ميکانيزمونو کې مشترک محدوديتونه

**سياسـي اراده:** دېـرى دغـه ميکانيزمونـه د دولتونـو پـر همـکارۍ تکيـه کـوي. لـه سياسـي ژمنتيـا پرتـه، څېړنـې پـه ټپـه دريـږي او احـکام نـه پلـي کيـږي.

**د اجـرا تشـې:** د جلـب احـکام، د عدالـت د بين‌المللـي محکمـې احـکام يـا د خسـارې د جبـران د ورکولـو احـکام ممکـن اجـرا نشـي. پـه ځانګـړي ډول هغـه مهـال چـې تـورن کسـان پـه واک کـې وي، يـا يـې د متحدينـو لـه خـوا سـاتنه وشـي، يـا د همـکارو دولتونـو لـه قضايـي حـوزو څخـه بهـر اوسـي.

**طولانـي بهيرونـه:** د پېچلـې رسـېدګۍ بهيـر غالبـاً کلونـه يـا لسـيزې وخـت نيسـي او د قربانيانـو کورنـۍ اوږده مـوده د عدالـت پـه تمـه تېـروي.

**د شـواهدو خنډونـه:** لـه پولـو ور هاخـوا د منلـو وړ شـواهدو راټولـول، پـه تېـره بيـا د تېـرو جرمونـو اړونـدو قضيـو کـې پېچلـي او ګـران دي.

**د قربانـي لاسرسـی:** د قربانيانـو کورنـۍ لـه محکمـو سـره د مراوداتـو پـر مهـال لـه ځينـو خنډونـو سـره مخامخيـږي، لکـه ژبـه، مالـي محدوديتونـه، حقوقـي پيچلتيـاوې او امنيتـي خطرونـه.

## د هر ميکانيزم ځانګړي محدوديتونه

**بين‌المللـي جزايـي محکمـه:**۱) د څېړنـې سـاحه محـدوده شـوې: د څارنوالـۍ دفتـر دا مهـال د طالبانـو او داعـش خراسـان ځانګـې جرائـم پـه لومړيتـوب کـې راوسـتې دي او د سـرچېنو د محدوديـت لـه املـه يـې د متحـده ايالاتـو او د افغانسـتان مخکنـي دولـت اړونـدې قضيـې پـه کـم لومړيتـوب کـې اچولـې دي. ۲) د روم د اساسـنامې د ۹۸مـې مـادې خنډونـه چـې پـر بنسـټ يـې دوه اړخيـزو هوکـړه ليکونـو، پـه ځانګـړي ډول لـه متحـده ايالاتـو سـره هوکـړې د ځينـو تورنـو کسـانو د سـپارلو خنـډ ګرځـې. ۳) د همـکارۍ نشـتوالی: طالبانـو د دې محکمـې صلاحيـت رد کـړی دی او پـه افغانسـتان کـې د دې محکمـې اړونـد د څېړنـو او فعاليتونـو خنـډ ګرځېدلـي دي. متحـده ايـالات لـه دې محکمـې سـره مخالفـت لـري او تـر اوسـه يـې د محکمـې څـو چارواکـي او د هغـوی ملاتـړي تحريـم کـړي دي.

**د عدالـت بين‌المللـي محکمـه:** ۱) يواځـې دولتونـه ورتـه لاسرسـی لـري؛ قربانيـان او د مدنـي ټولنـې بنسـټونه نشـي کـولای پخپلـه دعـوه طرحـه کـړي. يـو ملاتـړی دولـت بايـد دعـوه اقامـه کـړي او هيـڅ اسلامـي دولـت د شـاکي دولـت پـه توګـه د افغانسـتان پـر وړانـدې د سـيدا کنوانسـيون لـه بالقـوه قضيـې سـره نـه دی يوځـای شـوی. ۲) سياسـي خنډونـه؛ د احکامـو پلـي کـول د ملګـرو ملتونـو امنيـت شـورا پـورې تړلـي دي، چېـرې چـې د ويټـو درلودونکـي ځواکونـه (لکـه روسـيه، متحـده ايـالات او چيـن) کيـدای شـي خنـډ واقـع شـي.

**نړيـوال صلاحيـت:** ۱) د حضـور قواعـد؛ ډېـرى دولتونـه د دې غوښـتنه کـوي چـې تـورن کـس د قضيـې لـه پـر مـخ وړلـو وړانـدې پـه فيزيکـي توګـه د دوی پـه قلمـرو کـې حاضـر او موجـود اوسـي. ۲) د شـواهدو خنډونـه، پـه ځانګـړي ډول د هغـو جرائمـو اړونـد د شـواهدو مسـتندولو او ورتـه پـه لاسرسـي کـې خنډونـه، چـې کلونـه مخکـې ترسـره شـوي دي (د بېلګـې پـه توګـه پـه ۱۹۷۰ لسـيزه کـې). ۳) سياسـي حساسـيت، ځکـه ممکـن څارنـوالان د مخکنيـو افغـان چارواکـو يـا د بهرنيـو (متحـدو) دولتونـو اړونـد ځواکمنـو لوبغـاړو پـر وړانـدې د قضيـو پـه تعقيـب کـې ترديـد وکـړي. ۴)

کې نهايي احکام چې تورن په تعقیبوونکي دولت کې موجود نه وي یا وفات شوي وي.

**له قلمرو څخه بهر صلاحیت (د فعال شخصیت اصل):** ۱) نظامي محرموالی، په ځانګړي ډول د عملیاتي ثبت دفترونو ته په لاسرسي کې، د هدفي چارو معلومات او محرمې دوسیې. ۲) د پرې والي خطر، څکه دولتونه ممکن د سیاسي رسوایی څخه د ځان ساتلو لپاره د خپلو سرتېرو یا قراردادیانو پره او ساتنه وکړي. ۴) محدود ځواب ویل؛ ځکه څېړنې د سرغړونو پېښېدل مني، خو تعقیبول ډېر کم او غالباً انتخابي دي.



# د غيرقضايي ځواب ويلو ميكانيزمونه

د ځـواب ویلـو غیـر قضایـي میکانیزمونـه د بشـر حقونـو د سـرغړونو پـه مسـتندولو، د خاطـرو پـه سـاتلو، د قربانیانـو د کورنیــو د غــږ پــه راپورتــه کولــو او د بین‌المللــي نورمونــو پــه رامنځتــه کولــو، قضایــي مســیرونه بشــپړوي. دا میکانیزمونـه د لیـدل کېـدو پـه سـاتنه، د قربانیانـو تجربـو تـه پـه اعتبـار بښـلو او د قضایـي ځـواب ویلـو پـه هڅـو کـې حیاتـي نقـش لـري. دا میکانیزمونـه کـولای شـي د ملګـرو ملتونـو تـر رهبـرۍ لانـدې بهیرونـو لـه لارې، لکـه د ځانګـړو ګزارشـګرانو اړونـدو بهیرونـو، د بشـر حقونـو شـورا او د بشـر حقونـو د عالـي کمشـنر د دفتـر لـه لارې، او هـم د مدنـي ټولنـې تـر رهبـرۍ لانـدې د نوښـتونو، لکـه ولسـي محکمـو، مسـتندولو، د یـاد سـاتلو د پـروژو او دادغوښـتنې لـه لارې عمـل وکـړي. د دې تـر څنـګ، هغـوی تضمینـوي چـې حتـا کلـه چـې رسـمي عدالـت لـه خنـډ یـا ځنـډ سـره مـخ شـي، د حقیقـت لپـاره د قربانیانـو د کورنیـو غوښـتنې او پـه رسـمیت پېژنـدل د افغانسـتان اړونـد د بین‌المللـي تعامـل پـه مرکـز کـې باقـي پاتـې شـي.

## د ملګرو ملتونو میکانیزمونه

ملګـري ملتونـه د افغانسـتان پـه ګـډون د بشـر حقونـو د جـدي نقـض پـر وړانـدې ځـواب ویـل ځـاري. دا سـازمان پـه مسـتقیم ډول د مرتکبانـو جزایـي تعقیـب نـه درسـره کـوي، بلکـې د څارنـې، مسـتندولو، څېړلـو او د بشـر حقونـو د نقـض د راپـور ورکولـو ملاتـړ کـوي او هـم پـر دولتونـو او چارواکـو ډیپلوماتیـک فشـار واردوي. د منشـور پـر بنسـټ د ارکانـو (د بېلګـې پـه توګـه د امنیـت شـورا، عمومـي غونـډې، د بشـر حقونـو شـورا) لـه لارې، د هوکـړه ییـزو میکانیزمونـو او عملیاتـي بنسـټونو (د بېلګـې پـه توګـه، د بشـر حقونـو عالـي کمشـنرۍ دفتـر، پـه افغانسـتان کـې د بشـر حقونـو مرسـتیال پلاوی یـا یونامـا) لـه لارې، ملګـري ملتونـه د بشـر حقونـو د سـرغړونو برسـېره کولـو، د نورمونـو رامنځتـه کولـو او د قضایـي بهیرونـو لپـاره د شـواهدو برابرلـو لپـاره زمینـې برابـروي.
د افغانسـتان مدنـي ټولنـه او د قربانیانـو کورنـۍ کـولای شـي د اطلاعاتـو وړانـدې کولـو، راپورونـو ورکولـو، شـهادتونو او دادغوښـتنې لپـاره دې میکانیزمونـو تـه لاسرسـی ولـري، چـې مباحثـو او پرېکـړه لیکونـو تـه لـوری ورکـوي. کـه څـه هـم دا هڅـې پـه مسـتقیم ډول تعقیبولـو بانـدې نـه تمامیـږي، خـو د سـوابقو خونـدي کولـو، د قربانیانـو غـږ تـه پـه اعتبـار ورکولـو او د دولتونـو او محاکمـو د اقـدام پـه هڅونـه کـې مرسـته کـوي. دا راپـور د ملګـرو ملتونـو د حقـوق بشـر شـورا، پـه افغانسـتان کـې د بشـر حقونـو د وضعیـت پـه اړه د ملګـرو ملتونـو ځانګـړي ګزارشـګر، د یونامـا د بشـر حقونـو څانګـې او د افغانسـتان لپـاره د نـوي رامنځتـه شـوي خپلـواک څېړنیـز میکانیـزم پـه اړه معلومـات ورکـوي.

## د بشر حقونو شورا

د بشـر حقونـو شـورا (د ملګـرو ملتونـو بیـن الدولتـي بنسـټ) دی، ۴۷ غـړي دولتونـه لـري، موقعیـت یـې پـه جنـوا کـې دی، دا بنسـټ پـه ټولـه نـړۍ کـې د بشـر حقونـو د دودونـې او ملاتـړ مسـئولیت لـري. د دې تـر څنـګ، د ملګـرو ملتونـو د غـړو دولتـو د نړیوالـې دوره یـې بیـا کتنـې(UPR)  او هـم د ځانګـړو میکانیزمونـو د رامنځـه کولـو مسـئولیت لـري، چـې د هوادنیـو یـا موضوعـي ماموریتونـو ځانګـړي راپـورران پکـې شـامل دي.


**محرکونـه:** دا شـورا د هغـو پرېکـړه لیکونـو لـه لارې عمـل کـوي، چـې د غـړو دولتونـو لـه خـوا، غالبـاً د ملګـرو ملتونـو د بنسـټونو، د غیـر دولتـي سـازمانونو د راپورونـو یـا د ترینګلـي کېدونکـو بحرانونـو پـه ځـواب کـې وړاندیـز کیـږي. د بېلګـې پـه توګـه پـه ۲۰۲۱ کال کـې یـې د ۱/٤۸ پرېکـړه لیـک لـه لارې، پـه افغانسـتا کـې د بشـر حقونـو د وضعیـت اړونـد د ځانګـړي ګزارشـګر ماموریـت رامنځتـه کـړ.

**پایلې:** دا شورا پرېکړه لیک صادروي، ماموریتونه رامنځته کوي او کولای شي خپلواک څېړنیز میکانیزمونه، لکه د میانمار لپاره د خپلواکو څېړنو میکانیزم (IIMM) یا د افغانستان لپاره د خپلواکو څېړنو میکانیزم (IIM-A) رامنځته کړي. کولای شي سیاسي فشار رامنځته کړي او د قضایي بهیرونو ملاتړ وکړي.

**تعامل او همکاري:** دا شورا هر کال درې عادي ناستې کوي (فبروري، جون او سپتامبر) چې هره ناسته څلور اونۍ دوام کوي. په فوري وضعیتونو کې کولای شي ځانګړې ناستې هم دایرې کړي. د مدني ټولنې بنسټونه کولای شي د بیانیو په تسلیمولو، دولتونه د پوهاوي په ورکولو او د حاشیوي ناستو په جوړولو له دې شورا سره تعامل او همکاري وکړي.

**د بشر حقونو شورا او افغانستان:** دا شورا یوه له هغو ټولنو څخه ده چې غالباً د طالبانو له خوا د بشر حقونو د سرغړونو په اړه پکې بحث کیږي او د افغانستان د ځانګړي راپورر ګمارل هر کال تمدیدوي. د افغان مدني ټولنې بنسټونه ور څخه د لا پیاوړو ځواب ویلو لپاره د فشار په توګه ګټه پورته کوي، لکه د افغانستان لپاره د خپلواک څېړنیز میکانیزم غوښتنه. که څه هم په ډېرو مواردو کې د بشر حقونو شورا نشي کولای خپل پرېکړه لیکونه په مستقیم ډول اجرا کړي، خو څارنې ته دوام ورکوي او د پراخ ځواب ویلو ملاتړ کوي.

### د بشر حقونو د شورا سازماني جوړښت




## د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو خپلواک څېړنیز میکانیزم

د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر پر ۶مه نېټه د بشر حقونو شورا د افغانستان لپاره خپلواک څېړنیز میکانیزم رامنځته کړ. د دې میکانیزم ماموریت د جدي بین‌المللي جنایتونو او د بین‌المللي حقونو او بشر حقونو د خورا سختو سرغړونو اړوند د شواهدو راټولول، یوځای کول، ساتل او تحلیلول، د احتمالي مرتکبانو په ګوته کول او یا په ملي، سیمه ییزو یا بین‌المللي محکمو کې د منلو وړ دوسیو برابرول، او د بین‌المللي جزایي محکمې او د عدالت بین‌المللي محکمې ته وړاندې کول دي. تمه کیږي چې دا شورا و کولای شي هغه جرمونه چې په تېر کې د ټولو لوبغاړو له خوا ترسره شوي دي، اوس ترسره کیږي او یا په راتلونکي کې ممکن تر سره شي، تر پوښښ لاندې راولي.

**محرکونه:** دا میکانیزم د بشر حقونو شورا د ۶۰/۹ پرېکړه لیک له مخې په تولیز ډول منل شوی، رامنځته شو. کار یې په مخکې له مخکې توګه د همدې پرېکړه لیک له مخې پر مخ ځي؛ د شواهدو د راټولولو د پیل او ساتلو لپاره بېلو دولتي یا نهادي ارجاعاتو ته اړتیا لري.

**پایلې:** کم تر کمه کولای شي ۱) مستندې او مستدلې دوسیې د جزا د حقونو د معیارونو مطابق په ملي محکمو کې د استفادې لپاره (تر څنګ یې نړیوال/له قلمرو بهر صلاحیت)، سیمه ییزو محاکمو کې لکه د بشر حقونو اروپايي محکمه (د بېلګې په توګه، د کندوز د هوايي برید قضیه) او بین‌المللي محکمو کې ( د بېلګې په توګه، جزايي بین‌المللي محکمه او د عدالت بین‌المللي محکمه) کې وړاندې کړي؛ ۲) د تورنو پېژندل او له څارنوالانو سره همکاري وکړي؛ او ۳) د قرباني محوره او جنسیت محوره رویې وکاروي چې د قربانیانو د کورنیو ګډون او خوندي ساتل تضمینوي. کولای شي د روانو سرغړونو سیاسي قیمت زیات کړي او له مجازاتو څخه د معافیت د فرهنګ په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

**تعامل او همکاري:** د مدني ټولنې بنسټونه کولای شي: ۱) ملاتړي دولتونه او د ملګرو ملتونو بنسټونه د سرچینو د پیاوړتیا او له میکانیزم سره د همکارۍ لپاره پوهاوی ورکوي؛ ۲) د څارنوالۍ د اړتیاؤ سره سم د مستندو اسنادو همغږي کول، (لکه: د شواهدو د ساتنې زنځیر، تشریحي معلومات، د شاهدیو تائید)؛ ۳) د دوسیو وړاندې کول؛ او ۴) په شکاره توګه عدالت غوښته وکړي، چې له سیمې ور هاخوا ملاتړ وساتل شي.

**د افغانستان لپاره خپلواک څېړنیز مکانیزم:** د ملګرو ملتونو شته ابزار (لکه، ځانګړی ګزارشګر او یوناما) د بشر حقونو سرغړونې مستندوي خو په محکمه کې د منل کېدو وړ دوسیو د برابرولو لپاره نه دي طرحه شوي. د افغانستان لپاره خپلواک څېړنیز میکانیزم دغه تشه د راتلونکو محاکمو لپاره د شواهدو د ساتلو او د اجرا په حال کې د ځواب ویلو د هڅو په پیاوړي کولو سره، ډکوي. که څه هم اغېزناکه همکاري او معلوماتو او سیمې ته د لاسرسي ننګونې به وي، خو د بشر حقونو په شورا او د غیر دولتي سازمانونو په منځ کې پراخ ملاتړ دې میکانیزم ته د ځانګړي پاملرنې ښکارندويي کوي. د ۲۰۲۱ کال په مې میاشت کې، په کابل کې د نجونو پر یو ښوونځي له خونړي برید وروسته، چې هزاره ټولنه کې په نښه شوه، د بشر حقونو خپلواک کمیسیون دغه برید «نسل وژنه» و بلله، او د ملګرو ملتونو د یو خپلواک میکانیزم د رامنځته کولو غوښتنه یې وکړه. له هغې مهاله، افغان غیردولتي بنسټونو د دې میکانیزم د رامنځته کېدو لپاره اغېزناک دادغوښتونکی نقش لوبولی دی.

دا میکانیزم د سوریې لپاره د خپلواک او بې پرې بین‌المللي میکانیزم (د عمومي غونډې ۲۴۸/۷۱ پرېکړه لیک) او د میانمار لپاره خپلواک څېړنیز میکانیزم (د بشر حقونو د شورا ۲/۳۹ پرېکړه لیک) د نمونو پیروي کوي، چې د دوسیو په برابرولو سره د جزا د حقوقو له معیارونو سره سم د عدلي او قضايي تعقیب ملاتړ کوي. د دې دوو میکانیزمونو اړوند جزئیات په لاندې جدول کې راغلي دي.

| میکانیزم | موسس بنسټ | ماموریت | اهمیت |
|---|---|---|---|
| د سوریې لپاره بې پرې او خپلواک بین‌المللي میکانیزم | د ملګرو ملتونو عمومي غونډه ۲۴۸/۷۱ پرېکړه لیک | د ۲۰۱۱ کال له مارچ څخه په سوریه کې د ترسره شویو جدي جرمونو د شواهدو راټولول، یوځای کول، ساتنه او شننه؛ په ملي، سیمه ییزو او یا بین‌المللي جزايي بهیرونو کې د کارونې لپاره د دوسیو برابرول. | د ځواب ویلو دا ډول لومړی میکانیزم چې د عمومي غونډې له خوا رامنځته شوی دی؛ د جزا حقوقو له معیارونو سره سم عمل کوي، چې و کولای شي د عدلي او قضايي تعقیبونو ملاتړ وکړي. |
| د میانمار لپاره خپلواک څېړنیز میکانیزم | د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د شورا ۲/۳۹ پرېکړه لیک | د شواهدو راټولول او ساتل، د احتمالي مرتکبینو پېژندل او (ملي، سیمه ییزو او بین‌المللي) صلاحیت لرونکو محاکمو ته په میانمار کې د ترسره شویو جدي بین‌المللي جرایمو لپاره د قضايي دوسیو برابرول. | د سوریې لپاره میکانیزم مل میکانیزم دی، د بشر حقونو شورا څخه یې ماموریت اخستی؛ په مايانمار کې د روهینګیا او نورو پر وړاندې د جرمونو اړوند د ځواب ویلو د هڅو محور. |

## په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت اړوند د ملګرو ملتونو ځانګړی ګزارشګر

ریچارډ بنت، د افغانستان په چارو کې د ملګرو ملتونو ځانګړی ګزارشګر، چې د ۲۰۲۲ کال په اپرېل کې د بشر حقونو د شورا له خوا وګمارل شو، د ماموریت درلودونکی خپلواک کار پوه دی چې په افغانستان کې د بشر د حقونو څارنه وکړي، راپور ورکړي او د ښه والي لپاره یې توصیه وړاندې کړي. د هغه ماموریت چې لومړی د ۲۰۲۱ کال په اکتوبر کې ومنل شو، له هغې مهاله هر کال یې ماموریت تمدید شوی دی.

**محرکونه:** د ځانګړي ګزارشګر ماموریت مخکې له مخې روان دی؛ په دې معنا چې ګزارشګر د اقدام لپاره اړتیا نه لري چې شکایتونو او ارجاعاتو ته په تمه پاتې شي. د دې پر ځای، د هغو اطلاعاتو پر بنسټ عمل کوي چې د قربانیانو له کورنیو، د مدني ټولنې له سازمانونو او د ملګرو ملتونو د بنسټونو له خوا یې ترلاسه کوي. هغه همدا راز کولای شي په خپل نوښت څېړنې، مکاتبې او موضوعي راپورونه ورکول پیل کړي.

**پایلې:** ځانګړی ګزارشګر د حقوق بشري سرغړونو د جزئیاتو اړوند علني راپورونه خپروي او چارواکو ته موضوعي لیکونه لیږي او د ملګرو ملتونو د بنسټونو لپاره معلوماتي ناستې جوړوي. دا راپورونه رسنیز پوښښ، د مدني ټولنې دادغوښتنې، ډیپلوماټیکو مباحثو او د بشر حقونو د شورا پریکړه لیکونو ته لوری ورکوي. همداراز، غالباً د قضایي مراجعو پر وړاندې (لکه بین‌المللي جزایي محکمه) کې د ځواب ویلو په مباحثو کې وړاندې استناد کېږي.

**تعامل او همکاري:** مدني ټولنه کولای شي مستند دلایل، د قربانیانو د کورنیو شهادتونه او تحلیلي یادښتونه ځانګړي ګزارشګر ته وړاندې کړي. همداراز کولای شي هغه په خپلو غونډو کې د ګډون لپاره وروبلي چې د قربانیانو د کورنیو روایتونه او توصیې واوري. په مقابل کې د خپل ماموریت او کار په اړه هغوی ته پوهاوي ورکړي.

**ځانګړی ګزارشګر او افغانستان:** ځانګړی ګزارشګر د افغانستان د بشر حقونو د بحران اړوند یو خورا معتبر غږ ګرځېدلی. د هغه راپورونه په پرله پسې توګه د طالبانو له خوا په ځانګړي ډول د ښځو، نجونو او نورو څنډې ته کړای شویو ډلو پر وړاندې منظمې سرغړونې مستندې کړې دي او هغه ته یې د جنسیت پر بنسټ ځورونه او جنسیتي اپارتاید نوم ورکړی دی. د دې بحران د لیدل کېدو او د پای ته رسولو لپاره یې د بین‌المللي فشار د تضمین په پار، ځانګړی ګزارشګر د افغانستان اړوندو مسائلو په اړه د نورو ځانګړو ماموریت لرونکو سره له نږدې همغږي کوي. د نورو ځانګړو ماموریت لرونکو څو بېلګې په لاندې جدول کې تشریح شوي دي:

### د افغانستان اړوند نور ځانګړي ماموریت لرونکي

| ماموریت | د پوښښ ساحه | د اړیکې ادرس |
|---|---|---|
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر**، د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي اړوند، عومل او پایلې یې | د جنسیت له مخې تاوتریخوالی، تبعیض، له ښځو څخه د ملاتړ لپاره د دولتونو ژمنې. | hrc-sr-vaw@un.org |

| ماموریت | د پوښښ ساحه | د اړیکې ادرس |
| --- | --- | --- |
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** د شکنجې او نورو بې رحمانه، غیرانساني یا سپکوونکو چلندونو په اړه | په زندان کې شکنجه او ناوړه چلند، د دولتونو د ځواب ویلو ژمنې | hrc-sr-torture@un.org |
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** د شکنجې او نورو بې رحمانه، غیرانساني یا سپکوونکو چلندونو په اړه | لاریونونه، ټولنې/د مدني ټولنې سازمانونه، د مدني فضا رامنځته کول | hrc-sr-freeassembly@un.org |
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** ، د سوله ییزې راټولېدنې او ټولنو د جوړولو د حقونو اړوند | د رسنیو او بیان آزادي، سانسور | hrc-sr-freedex@un.org |
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** ، د عقیدې او بیان د آزادۍ د دودونې او ملاتړ په اړه | غیرقانوني وژنې، په مرګ تهدیدول، د زور کارول | hrc-sr-eje@un.org |
| د اقلیتونو په چارو کې د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** | د قومي/دیني/ژبنیو اقلیتونو حقوق | hrc-sr-minorityissues@un.org |
| د ملګرو ملتونو **ځانګړی ګزارشګر** ، د تعلیم د حق په اړه | تعلیم ته لاسرسی، تبعیض، د ښوونځیو تړل | hrc-sr-education@un.org |

# د بشر حقونو لپاره د عالي کمشنر دفتر د بشر حقونو د خدمت واحد

د بشـر حقونـو د خدمـت واحـد د یوناما پـه چوکاټ کـې د ملګـرو ملتونـو د بشـر حقونـو د عالـي کمیشـنر د دفتـر د متحـد میدانـي حضـور پـه توګـه فعـال دی. ماموریـت یـې پـه ټـول افغانسـتان کـې د بشـر حقونـو د وضعیـت څارنـه، مسـتندول، شـننه او راپـور ورکـول، او لـه اړونـدو لوبغـاړو سـره یوځـای دادغوښـته او فني/تخنیکـي همـکاري ده. پـه اصـل کـې دا چـاره پـه هیـواد کـې د ملګـرو ملتونـو د لا پراخـو سیاسـي، انکشـافي او تلپاتـو موخـو څخـه ملاتـړ کـوي. دا بنسـټ د افغانسـتان پـه بېلابېلـو ولایتونـو کـې حضـور لـري.

**محرکونـه:** دا واحـد (یوناما) د یـو دایمـي او مخکـې لـه مخـې رامنځتـه شـوي ماموریـت لانـدې کار کـوي، چـې د ملګـرو ملتونـو د امنیـت شـورا پـه پرلـه پسـې پرېکـړه لیکونـو کـې تعریـف شـوی دی. پـه سـازمان شـوي ډول د بشـر حقونـو نقـش مسـتندوي او پـه منظـم ډول راپـور ورکـوي. د دې فعالیـت د ترسـره کولـو لپـاره لـه نـورو بنسـټونو او افـرادو څخـه د شـکایت یـا امـر ترلاسـه کولـو تـه اړتیـا نـه لـري.

**پایلـې:** د بشـر حقونـو نقـض مسـتندوي. د وضعیـت پـه اړه منظمـه اطلاع رسـونه کـوي. د ملکـي افـرادو د سـاتنې، د ښـځو حقونـو، د نیـول شـویو کسـانو د حقونـو، سیاسـي آزادیـو، او پـه افغانسـتان کـې د اقلیتونـو او ماشـومانو د وضعیـت پـه برخـو کـې موضوعـي راپورونـه خپـروي. راپورونـه یـې د ډیپلوماسـۍ او ځـواب ویلـو لپـاره یـوه معتبـره سـرچینه ده. لـه بالفعـل چاراواکـو سـره، د څېړنـو د غوښـتنې او عدالـت تـه د لاسرسـي لـه لارې دادغوښـتنه کـوي.

**تعامـل او همـکاري:** د مدنـي ټولنـې سـازمانونه او د قربانیانـو کورنـۍ کـولای شـي د بشـر حقونـو د نقـض، پـه ځانګـړې ډول د هغـو سـرغړونو اړونـد معلومـات ورتـه ولیـږي، چـې د دې واحـد پـه لومړیتوبونـو کـې راځـي.
د بشـر حقونـو د خدماتـو واحـد او افغانسـتان: لـه هغـه وختـه چـې طالبانـو بیـا ځلـې د افغانسـتان کنټـرول پـه لاس کـې ونیـو، دا واحـد، پـه ځانګـړي ډول د نجونـو د زده کـړو د مخنیـوي، خپلسـرو نیونـو، قهریـه تـري تـم کولـو اړونـد پـه افغانسـتان کـې دننـه د بشـر حقونـو د نقـض د راپـور ورکولـو یـوه معتبـره سـرچینه ده. د دې واحـد موندنـې بین‌المللـي فشـار سـاتي او د ځـواب ویلـو او دادغوښـتنې لپـاره د هڅـې یـو بنسـټ دی.

#### د ملګرو ملتونو د ځواب ویلو د میکانیزمونو اړوند ګټوري سرچینې:

د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د میکانیزمونو او ابزارو فهرست او پېژندنه:
https://www.ohchr.org/en/instruments-and-mechanisms

په افغانستان کې د بشر حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر:

https://www.ohchr.org/en/countries/afghanistan/ourpresence and Civil

د د مدني ټولنې بنسټونه او د بشر حقونو لپار د عالي کمیشنر دفتر:

https://www.ohchr.org/en/resources/civil-society

په افغانستان کې د بشر حقونو د وضعیت لپاره ځانګړی ګزارشګر:

https://www.ohchr.org/en/special-procedures/sr-afghanistan

د ۶۰/۹ پرېکړه لیک د افغانستان لپاره د خپلواک څېړنیز میکانیزم رامنځته کوونکی:

Pages/resolutions.aspx/60/https://hrcmeetings.ohchr.org/HRCSessions/RegularSessions

د افغانستان لپاره د خپلواک څېړنیز میکانیزم د رامنځته کولو لپاره د مدني ټولنې د بنسټونو لیک:

https://rawadari.org/statements/call-for-an-immediate-halt-to-the-mass-deportation-of-afghans-inviolation-of-international-law/

# د مدني ټولنې نوښت



کله چې رسمي قضايي نظامونه پاتې راځي د مدني ټولنې سازمانونه، د ځواب وينې په پرمخ وړلو کې حياتي نقش لوبوي. هغوی د بشر حقونو نقض مستندوي، د قربانيانو غږ خوندي کوي، دادخواهي بسيجوي او د حقيقت ويلو او عدالت لپاره زمينې برابروي. له ولسي سمبوليکو محکمو او ډيجيټلي موزيمونو څخه خاطرې اخلي، څو وکولای شي نوي حقوقي نورمونه رامنځته کړي او د بين‌المللي څېړنيزو ميکانيزمونو د فعالولو لپاره غوښتنه وکړي. د مدني ټولنې بنسټونه تضمينوي چې د قربانيانو کورنۍ د عدالت د هڅو په مرکز کې پاتې شي. په دې برخه کې د افغانستان او بين‌المللي مدني ټولنې په رهبرۍ څو کليدي نوښتونه معرفي کېږي، لکه د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه، د افغانستان د خاطرو کور او د جنسيتي اپارتايد د جرم ګڼلو لپاره دادغوښتنه. دا نوښتونه په حقيقت موندنه کې مدني ټولنې د ګډون، د جمعي حافظې خوندي کولو او د ځواب ويلو بېلابېلې لارې چارې په ګوته کوي.

## د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه

دا د يوې علني محکمې ابتکار و چې د ۲۰۲۵ کال د اکتوبر له ۸مې څخه تر ۱۰مې د افغان مدني ټولنې د ځلورو بنسټونو د ائتلاف له خوا د ولسي دايمي محکمې (Permanent People’s Tribunal) له خوا ترسره شو. دا ځلور بنسټونه په لاندې ډول دي: رواداري، د افغانستان ډيموکراسۍ او بشر حقونو موسسه، د څېړنې او پراختيا بنسټ، او د بشر حقونو د مدافعانو ټولنه. دې ځلور بنسټونو د طالبانو د چارواکو پر وړاندې اتهام ليک ترتيب کړ او د بشريت ضد جنايت د مصداق په توګه د جنسيت پر بنسټ د ځورولو په جرم يې تورن کړل. دا سمبوليک او روايت محوره بهير و چې د مخکنيو بين‌المللي ولسي محکمو څخه يې الهام اخستی و. د ولسي محکمو موخه د بشر حقونو د سرغړونو مستندول، د قربانيانو د کورنيو د غږ خوندي کول او د اخلاقي احکامو صادرول دي.

**محرکونه:** ځلور افغان مدني ټولنو د ۲۰۲۴ کال په ډسامبر کې ولسي دايمي محکمې ته غوښتنليک وړکړ. په ۲۰۲۵ کال کې ومنل شو. د افغانستان د ښځو لپاره د ولسي محکمې د رامنځته کېدو پروسه د ۲۰۲۵ کال په جولای کې رسماً پيل شوه.

**پايلې:** دې محکمې د قربانيانو د کورنيو او پاتې کسانو لپاره د خبرو لپاره خوندي فرصت او ټولګډونه فضا برابره کړه. استماعيه ناستې د ۲۰۲۵ کال له ۸مې تر ۱۰مې د اسپانيا په مادريد کې په علني ډول پيل شوې. په پای کې قاضيانو خپل لومړنی حکم صادر کړ او د طالبانو د چارواکو پر وړاندې تورونه يې منل. د قاضيانو وروستی حکم به د ۲۰۲۵ کال د ډسامبر په ۱۱مه صادريږي. دا بهير پر نړيوالو عمومي خبرو اترو د اغېز ښندلو لپاره طرحه شوی و چې د ځواب ويلو له خورا پراخ روايت سره يې مرسته کړې ده. هيله دا ده چې، نور ميکانيزمونه، لکه جزايي بين‌المللي محکمه او د ملګرو ملتونو تر رهبرۍ لاندې هڅې، پياوړې کړي.

**تعامل او همکاري:** د مدني ټولنې بنسټونه او او نورې ټولنيزې ډلې کولای شي د بين‌المللي دادغوښتنې د پياوړتيا لپاره د تعقيبي فعاليتونو سازمانولو، د قربانيانو د کورنيو د ملاتړ او ساتنې تضمين او د دې ولسي محکمې د موندنو په کارولو کې نقش ولوبوي.

**د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه او افغانستان:** په افغانستان کې ښځې او نجونې خپلو بنسټي حقونو ته په لاسري کې له ژورو او پراخو محدوديتونو سره مخ دي؛ د تعليم له منعه کېدو څخه له عمومي ژوند څخه تر حذفېدو پورې. دا بهير د نړۍ د جنسيتي جبر له خورا سختو بېلو څخه دی. د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه د قربانيانو د کورنيو د تجربو او د بشريت ضد جنايت د مصداق په توګه د جنسيت پر بنسټ د تعذيب د تورونو منعکسولو لپاره حياتي پليټفارم و. دې ولسي محکمې د جامع او قرباني محوره عدالت غوښتنه، له رسمي قضايي بهير ور هاخوا، رامنځته کړې ده.

**په نورو هیوادونو کې د ولسي محکمو بېلګې:** د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه د مدني ټولنې په رهبرۍ د محکمو د پخواني دود پر بنسټ رامنځته شوې ده. دې ولسي محکمو، کله چې رسمي عدالت له خنډ سره مخ شوی یا ځنډېدلی دی، د بشر حقونو فاحشې سرغړونې یې مستندې کړي دي، د قربانیانو د کورنیو غږ یې پورته کړی او پر سیاسي خبرو اترو یې اغېز ښندلی.

| محکمه | زمینه او تمرکز | اهمیت/پایله |
| --- | --- | --- |
| د ویتنام په اړه د راسل محکمه، ۱۹۶۶-۱۹۶۷ | د ویتنام په جګړه کې یې د متحده ایالاتو رویه وارزوله (تهاجم، ممنوعه وسلې، د ملکي وګړو په نښه کول)؛ غیرالزامي احکام یې صادر کړل. | د مدني ټولنې په رهبرۍ یې محکمې رامنځته کړې او د متحده ایالاتو د جنګي جنایتونو اړوند یې خبرو اترو او عمومي افکارو ته بڼه ورکړه |
| ولسي دایمي محکمه، په ۱۹۷۹ کې تاسیس شوې. | د راسل د محکمو ځای ناستې؛ د باسو بنسټ تر چتر لاندې دایمي شعبه؛ د جنګي جنایتونو، بشریت ضد جنایتونو، نسل وژنې او نظامي ضرر رسونو په اړه له ۵۰ څخه د زیاتو ناستو جوړول. | له محاکمو ور هاخوا د ځواب ویلو د خلاوو په نښه کولو او ډکولو لپاره دایمي غونډه؛ د کارپوهنې او د بشر حقونو د نقض د علني سوابقو د ترتیب د پلاوو بسیجول. |
| د جاپان د نظامي جنسي غلامۍ اړوند د ښځو په حق کې د بین‌المللي جنایتونو محکمه ۲۰۰۰/۲۰۰۱ | د «ښځو آرامتیا» اړوند ولسي محکمه، په توکیو کې (۲۰۰۰ ډسامبر) د دولت/قوماندې ورکولو مسئولیت یې ثابت کړ؛ منل، بښنه غوښتل او جبران یې توصیه کړ. | د واقعیتونو حقوقي ریکارډ یې رامنځته کړ، د قربانیانو د کورنیو او پاتې کسانو شاهدي یې پیاوړې کړه او د منلو او خسارې د جبران لپاره یې بنسټ کېښود. |
| د ایران ولسي محکمه، ۲۰۱۲-۲۰۱۳ | د «حقیقت موندونکي کمیسیون استماعیه ناستې (لندن، ۲۰۱۲ جون) د ۱۹۸۰ لسیزې ټولیزو وژنو په اړه جوړې او په ۲۰۱۳ کې نهایي حکم صادر شو. | حافظه او دلایل یې ژوندي وساتل؛ د ملګرو ملتونو د اقدام غوښتنه یې وکړه؛ د رسمي قضایي بهیر له نشتوالي سره سره یې له بین‌المللي پوهاوي سره مرسته وکړه. |

## د یاد ساتنه: د افغانستان د خاطرو خونه

د افغانستان د خاطرو خونه (Afghanistan Memory Home) یو انلاین ډیجیټلي موزیم او قرباني محوره ډیټابېس دی چې د افغانستان د بشر حقونو او ډیموکراسۍ سازمان له خوا رامنځته شوی دی. دا نوښت د یو مجازي موزیم له لارې، د افغان قربانیانو د لټون وړ ډیټابیس یا د معلوماتو مرکز، او د خاطرو صندوق له لارې؛ چې د عکسونو، پوښاک، کتابچو، خاطرو او یادګارونو ټولګه ده، د قربانیانو او د جګړې د قربانیانو د پاتې کسانو داستانونه او ځیزونه خوندي ساتي.

**محرکونه:**د افغانستان د خاطرو خونه د څو کلونو په بهیر کې رامنځته شوې. د دې نوښت د پیل نقطه د خاطرو صندوق دی چې په ۲۰۱۱ کال کې یې د راټولولو بهیر پیل شو. په ۲۰۱۹ فبروري کې د دې صندوقونو

پـر بنسـټ د افغانسـتان د خاطـرو او خبـرو اتـرو مرکـز تاسـیس شـو. دا مرکـز د جګـړې لومـړی مرکـز و چـې د یـو افغـان مدنـي بنسـټ لـه خـوا منځتـه شـو. پـه ۲۰۲۱ کال کـې واک تـه د طالبانـو پـه بیرتـه راګرځېـدو سـره دا موزیـم وتـړل شـو. پـه ۲۰۲۲ کال کـې د بشـر حقونـو او ډیموکراسـۍ موسسـې د HURIDOCS پـه همـکارۍ د دې موزیـم پـه ډیجیټلـي کولـو پیـل وکـړ. د ۲۰۲۴ کال پـه لومړیـو کـې د افغانسـتان د خاطـرو خونـه پرانسـتل شـوه، چـې د هغـې موزیـم ډیجیټلـي بڼـه ده.

**پایلـې:** د افغانسـتان د خاطـرو خونـه د قربانیانـو د کورنیـو، پاتـې کسـانو او بهـر مېشـتو یـا ډیاسـپورا لپـاره خونـدي او ټولګډونـه فضـا رامنځتـه کـوي؛ شـخصي او رسـمي څیزونـه مسـتندوي او پـه مجـازي بڼـه یـې خونـدي کـوي؛ او د یـاد سـاتلو، پوهـاوي، دادغوښـتنې او د خسـارې جبـران لپـاره سـمبولیک ابـزار برابـروي. دا خونـه پـه معیـاري روش خونـدي کولـو سـره، چـې د حقیقـت ویلـو او د عدالـت احتمالـي بهیرونـو لپـاره د ګټـې اخسـتنې وړ وي، د زیـان ژونـدي بڼـه خونـدي کـوي.

**تعامـل او همـکاري:** د مدنـي ټولنـې بنسـټونه او د قربانیانـو کورنـۍ کـولای شـي «د خاطـرو صنـدوق»، خپـل شـهادتونه او د قربانیانـو پاتـې څیزونـه د افغانسـتان د خاطـرو خونـې تـه ډالـۍ کـړي او د نندارتنونـو جـوړول وړاندیـز کـړي. د دې مـوادو لېـږل کیـدای شـي د افغانسـتان د خاطـرو د خونـې د تمـاس د پاڼـې لـه لارې همغـږې شـي. د مدنـي ټولنـې بنسـټونه کـولای شـي د دادغوښـتنې، ښـوونیزو پروګرامونـو او د انتقالـي عدالـت د پلانولـو لپـاره د افغانسـتان د خاطـرې د خونـې د محتـوا پـه همغـږې کولـو سـره تـرې ګټـه واخلـي.

**یـاد سـاتل او افغانسـتان:** لکـه پـه افغانسـتان کـې، د رسـمي عدالـت پـه نشـتوالي او د پاتـې راتلـو پـه صـورت کـې، د افغانسـتان د خاطـرې خونـه د ډیجیټلـي زیـارت او د یـو بدیـل آرشـیف پـه توګـه عمـل کـوي؛ د قربانیانـو یـاد تـه درنـاوی کـوي، د قربانیانـو د پاتـې کسـانو داسـتانونو تـه ځـواک وربښـي او د راتلونکـو هڅـو لپـاره د حقیقـت موندنـې او ځـواب وینـې پـه برخـه کـې، دلایـل او شـواهد خونـدي کـوي.

یاد ساتل: د نورو هیوادونو بېلګې

| اهمیت | تمرکز | ځای |
|---|---|---|
| پـرم-۳۶ (د ګـولاګ موزیـم)، روسـیه، لـه ۱۹۹۰ لسـیزې راپدېخـوا | د اجبـاري کار مخکنـی کمـپ چـې د سیاسـي ځېنـې د موزیـم پـه توګـه خونـدي شـوی و پـه ۲۰۱۴-۲۰۱۵ کلونـو کـې د سیمه ییـزو چارواکـو لـه خـوا پـه واک کـې واخسـتل شـو او روایـت کـې یـې ګوتـې ووهـل شـوې. مجـازي نسـخه یـې دا مهـال لـه اصلـي روح سـره مرسـته کـوي. | دا ښـیي چـې څـه ډول دولتـي مداخلـه کـولای شـي د خاطـرو د سـاتنې ځایونـو کـې ګوتـې ووهـي. پـه داسـې وضعیـت کـې، مدنـي ټولنـه کـولای شـي د روایتونـو د سـاتنې لپـاره ډیجیټلـي یـاد سـاتنې تـه مخـه کـړي. |
| د «شیړمې ناحیې» موزیم، جنوبي افریقا (۱۹۶۶ څخه تر ۱۹۸۰) | پـه ټولنـه کـې ریښـه لرونکـی موزیـم دی چـې پـه کیـپ ټـاون کـې اجبـاري ځـای پـر ځـای کـول مسـتندوي؛ د پراخـو شـفاهي تاریخوونـو او د مخکنیـو اوسـېدونکو د شـخصي آثـارو پـه ګـډون. | د قربانیانـو د کورنیـو او پاتـې کسـانو پـه رهبـرۍ د یـو موزیـم بېلګـه او عامـه پوهـاوی دی چـې حقیقـت لـه ژونـدۍ تجربـې سـره غوټـه کـوي. |
| د «نیایو هاوس» د شکنجې تالارونه، کینیا (۱۹۷۰ او ۱۹۹۰ لسیزې) | مخکـې د نایروبـي پـه مرکـې پـټ ځـای و چـې د شـکنجې لپـاره کارېـده. د قربانیانـو کورنیـو او پاتـې کسـانو د عمومـي یـاد سـاتنې پـه توګـه د دې ځـای د سـاتنې لپـاره عدالـت غوښـتنه وکـړه. دې ځـای تـه لاسرسـی محـدود دی. | د قربانیانـو د کورنیـو او پاتـې کسـانو د عدالتغوښـتنې ښـه بېلګـه ده. ښـیي چـې څـه ډول عدالـت غوښـتنه د جـرم ځایونـه د جمعـي خاطـرو د خونـدي کولـو پـه ځایونـو بدلـوي. |

| اهمیت | تمرکز | ځای |
|---|---|---|
| کومارکا بلیده، «د چوګا ملي مرکز» شرقي تیمور | ۲۰۱۶/۴۸ فرمان-قانون مخکنی زندان د حافظې او بشر حقونو په ملي مرکز بدل کړ چې دا مهال پر دیوالونو انځورګرۍ خوندي کوي، د ښوونیزو پروګرامونو کوربه توب کوي او شاهدۍ خوندي ساتي. | د دولت تر ملاتړ لاندې د د یاد ساتنې بېلګه ده چې «د حقیقت کمیسیون» د توصیو له مخې رامنځته شو. |
| د آزادۍ د جنګ موزیم، بنګله دېش (۱۹۷۱) | دا موزیم په ۱۹۹۶ کې تاسیس او په ۲۰۱۷ کې نوي ودانۍ ته ولېږدول شو. د هیوادوالو له خوا ډالۍ شوي ټولګه ده. ښوونیز او څېړنیز پروګرامونه جوړوي. | یو «ولسي موزیم» دی چې د عمومي ډالیو او ټولنې د رهبرۍ له خوا رامنځته شوی. |

## د جنسیتي اپارتاید جرم ګرځولو دادغوښتنه

د جنسیتي اپارتاید جرم ګرځولو دادغوښتنه هغه نوښت دی چې د ښځو د حقونو د مدافعینو، حقوق پوهانو او حقوقي کارپوهانو له خوا واک ته د طالبانو د بېرته راګرځېدو وروسته پیل شو. په بین‌المللي جزایي حقوقو کې د اپارتاید د اوسني تعریف په پراخولو سره، د بین‌المللي حقوقو او داخلي حقوقو له مخې د بشریت ضد جرم په توګه د «اجنسیتي اپارتاید» پېژندنه یې موخه ده. ځو دولتونو د بشر ضد جنایت کنوانسیون په مسوده کې د جنسیتي اپارتاید د ځای پر ځای کولو هرکلی کړی دی، چې دا مهال د مذاکرې په مرحله کې دی.

**محرکونه:** دا نوښت د لسیزو پرله پسې سرغړونو له امله، هم د طالبانو د رژیم په لومړۍ دوره کې (۱۹۹۹۶-۲۰۰۱) او ه په ۲۰۱۲ کې د طالبانو له بېرته راګرځېدو وروسته راپیدا شو. طالبانو تعلیم، کار، روغتیایي خدمتونو، تګ راتګ او عمومي ژوند ته د ښځو لاسرسی په کلکه محدود کړی دی. د «جنسیتي اپارتاید» اصطلاح د افغانو ښځو په منځ کې په پیاوړې توګه منعکس شوی او د ښځو پر وړاندې د بحران د تشریح کولو لپاره، هم په سیمه ییزه دادغوښتنه او هم د ملګرو ملتونو په خبرو اترو کې پر یو سیاسي او حقوقي ابزار بدل شوی.

**پایلې:** دا دادغوښتنه (۱ د «نژاد» تر څنګ د «جنسیت» د ځای پر ځای کولو لپاره «د بشریت ضد جنایتونو د مخنیوي او مجازاتو کنوانسیون» اصلاح؛ ۲) د بین‌المللي جزایي محکمې په صلاحیت کې د اجنسیتي اپارتاید ورزیاتولو لپاره د «روم اساسنامې» احتمالي بیا کتنه ؛ ۳) په داخلي قوانینو کې د جنسیتي اپارتاید جرم ګڼل وړاندیزوي. د جنسیتي اپارتاید جرم ګڼل حقوقي خلا ډکوي، عدالت ته د قربانیانو او د قربانیانو د کورنیو لاسرسی زیاتوي او دولتونه د جنسیتي اپارتاید اروند مخنیوي، څېړنې او مجازاتو ته اړباسي.

تعامل او همکاري: د مدني ټولنې بنسټونه کولای شي د «ګډ لیک» او «حقوقي یادښت» په شریکولو چې د نړیوالو حقوق پوهانو، د نوبل جایزې ګټونکو او د ښځو د حقونو د فعالانو په ملاتړ د ترسره کوونکو له خوا برابر شوي دي، دغه خوځښت پیاوړی کوي. هغوی کولای شي د ملګرو ملتونو د غړو دولتونو پر وړاندې، په ځانګړي ډول «په شپږمه کمېټه» او «د بشر حقونو شورا» کې، د بشریت ضد جنایت کنوانسیون په مذاکراتو کې د جنسیتي اپارتاید د ځای پر ځای کولو لپاره، دادغوښتنه وکړي.

**د جنسیتي اپارتاید د جرم ګڼلو لپاره دادغوښتنه او افغانستان:** د جنسیتي اپارتاید جرم ګڼل د افغان قربانیانو د کورنیو او پاتې کسانو ژوندۍ تجربه په رسمیت پیژني، د طالبانو تر ملاتړ لاندې د ځپلو پر وړاندې ملاتړونه پیاوړي کوي، او همدا راز له پناه غوښتنې، تحریمونو او د بین‌المللي جزایي محکمې یا د عدالت بین‌المللي محکمې په څېر مسیرونو ته راجع کول له ځواب ویلو سره خورا مرسته کوي.

# د غیر قضایي ځواب وینې د میکانیزمونو محدودیتونه

## ګډ محدودیتونه

- **د قضایي تعقیب د ځواک نشتوالی:** دا میکانیزمونه او نوښتونه نشي کولای په مستقیم ډول قضایي تعقیب وکړي؛ پر قضایي اقدام د موندونو تمامېدل له سیاسي ارادې سره تړلي دي.

- **سیاسي مخالفت:** بالفعل دولتونه یا واکمن چارواکي ممکن د لاسرسي مخه ونیسي، راپورونه زیانمن کړي یا ماموریتونه تعویق کړي.

- **ساتنه او غچ اخستنه:** سرچینې، کارکوونکي او د کورنۍ غړي له علني راپور ورکونې وروسته کېدای شي له ګواښ سره مخامخ شي.

- **د شواهدو کمزوري:** د شواهدو په سپارلو او خوندي ساتلو کې خلاوې، تشریحي معلومات یا ناتائید شوي شواهد، کولای شي راتلونکې حقوقي کارونه محدود کړي.

- **تلپاتې والی:** لنډمهالې مالي مرستې او د کارکوونکو ځای پر ځای کول د فعالیت استمرار او آرشیفونه مختل کوي.

## د هر میکانیزم ځانګړي محدودیتونه

- **د افغانستان لپاره ځانګړی ګزارشګر:** هر کال تمدید، ممکن ماموریت له سیاسي اړخه ضررمنونکی کړي؛ په سیمه کې محدود لاسرسی؛ د معلوماتو سرچینې له لیکونو تبادله کولو وروسته احتمالاً د غچ اخستنې له خطر سره مخ دي.
- **د بشر حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر د خدمت واحد:** د (یوناما) په یو سیاسي ماموریت کې ځای لري؛ معلوماتو ته لاسرسی د بالفعل چارواکو تابع دی؛ که حفاظتي قواعد رعایت نشي، حساس اطلاعات ممکن په محکمه کې د منلو وړ نه وي.
- **د بشر حقونو شورا:** پرېکړه لیکونه یې الزامي نه دي؛ ماموریتونه کولای شي په معاملې سره کمزوري شي.
- **ولسي محکمې:** احکام یې اخلاقي دي (نه حقوقي)؛ د شاهدانو لپاره امنیتي خطر؛ د اشخاصو او په ولسي محکمه کې د ښکېلو بنسټونو پر وړاندې د افترا د تور دوسیه.
- **یاد ساتل:** د روایت تضاد، سیاسي کېدل او حذفېدل؛ د بیا ټروما خطر؛ د اوږدمهال کوربه توب مسائل او د اطلاعاتو مالکیت.
- **د جنسیتي اپارتاید جرم ګڼل:** د بین‌المللي معاهدو د تصویب اوږد او ورو بهیر؛ د دولتونو مخالفت؛ له موجوده جرایمو سره د غلط فهمۍ خطر (لکه، د جنسیت له مخې معذیب) چې کولای شي د عدالت غوښتنې د پیغام په انحراف تمام شي.

## د ځواب وینې په دودولو کې د مدني ټولنې د نقش اړوند ګټورې سرچینې:

**د افغانستان د ښځو لپاره ولسي محکمه:**

https://afghanistantribunal.com/

**او په اړه يې بيا بيا مطرح شوي پوښتنې:**

https://rawadari.org/papers/frequently-asked-questions-about-the-peoples-tribunal-for-women-of-afghanistan/

**د افغانستان د خاطرو خونه:**

https://afghanistanmemoryhome.org/

**د جنسيتي اپارتايد د ختمولو دادغوښتنه:**

https://endgenderapartheid.today/

**د مدني ټولنې لپاره د بين‌المللي جزايي محکمې او ايروجست لارښود:**

https://www.icc-cpi.int/news/documenting-international-crimes-and-human-rights-violations-accountability-purposes

**د مدني ټولنې لپاره د بشر حقونو د عالي کميشنر د دفتر رساله او نورې سرچينې:**

https://www.ohchr.org/en/resources/civil-society

## اصطلاحات

**د قربانیانو کورنۍ او پاتې کسان:** هغه کسان چې د بشر حقونو نقض یا غمیزه یې تېره کړې. دا اصطلاح پر عاملوالي او زغملو تاکید کوي او د «قرباني» د حقوقي اصطلاح پر ځای راځي، چې د انفعال او بې وسۍ معنا ورکړي. فعالان دې ته ترجیح ورکوي چې دا اصطلاح د «قرباني» پر ځای وکارول شي.

**څېړنه (بین‌المللي جزايي محکمه):** د جواز له ترلاسه کولو وروسته رسمي مرحله ده چې څارنوال پکې شواهد راټولوي، او شاهدانو سره مرکې کوي او د احتمالي محاکمو لپاره دوسیه جوړوي.

**جنسیتي تعذیب:** (Gender Pesecution) هغه جرم دی چې د روم د اساسنامې له مخې د انسانیت پر وړاندې د جرم په توګه پیژندل شوی، چې د روم په اساسنامې کې د لیست شویو یو یا ډېرو جرمي کړنو سره په تړاو کې د «جنسیت» له مخې له بنسټیز حقونو څخه قصدي او سخت محرومیت پکې شامل دی.

**تکمیل والی:** په «روم اساسنامه» کې یو اصل دی چې له امله یې جزايي بین‌المللي محکمه یواځې هغه مهال مداخله کولای شي چې ملي محکمې واقعاً د بین‌المللي جرایمو په تعقیب کې ناتوانه یا بې ارادې وي. که یو هیواد خپل معتبر تحقیق او محاکمه ترسره کړي، بین‌المللي جزايي محکمه ناظره پاتې کېږي.

**د ځواکونو د وضعیت هوکړه لیک:** (SOFA) د کوربه هیواد او بهرنیو نظامي ځواکونو هوکړه یا توافق چې حقوقي وضعیت یې ځواکونه ټاکي، او دا چې کوم قوانین وړاندې حاکم دي او کوم هیواد یې د جرایمو اړوند صلاحیت لري.

**د خسارې جبران:** (Reparations) قربانیانو ته د وارد شوي ضرر د ترمیم لپاره تدابیر، لکه د کرامت اعاده، د غرامت ورکول، ځواکمنول، د رضایت جلبول، او د نه تکرار تضمینونه.

**اصلي بین‌المللي جرایم:** د بین‌المللي جزايي محکمې تر واک لاندې څلور جرمونه؛ نسل وژنه، د بشریت ضد جنایتونه، جنګي جنایتونه او (له ۲۰۱۸) څخه پر ځمکه د تعرض جرم.

**جنګي جرمونه:** د بین‌المللي بشردوستانه حقونو جدي سرغړونې چې د وسله والو شخړو په بهیر کې ترسره کېږي؛ لکه د ملکي خلکو موخه ګرځول، شکنجه یا له ممنوعه وسلو څخه استفاده.

**بشریت ضد جنایت:** جدي جنایتونه لکه قتل، شکنجه، جبري تري تم کول، ځورول او نور اعمال دي، چې د پراخ یا منظم برید د برخې په توګه د ملکي خلکو پر وړاندې ترسره کېږي. دا جرایم هم په جګړه او هم په سوله کې ممکن پېښ شي.

**د جلب حکم (بین‌المللي جزايي محکمه):** رسمي حکم دی چې د بین‌المللي جزايي محکمې د مقدماتي شعبې د قاضیانو له خوا صادرېږي او د دې ایجاب کوي چې تورن کس د بین‌المللي جرمونو له امله ونیول شي او بین‌المللي جزايي محکمې ته وسپارل شي.

**له قلمرو ور هاخوا صلاحیت (د فعال شخصیت اصل):** له قلمرو بهر د ترسره شویو جرمونو له امله، پر خپلو اتباعو د صلاحیت د اعمال په پار د یو دولت ځواک.

**انتقالي عدالت:** د بشر حقونو تېرو سرغړونو ته د رسېدګۍ لپاره تدابیر، لکه تعقیبونه، حقیقت موندنه، د خسارې جبران او د بنسټونو اصلاحات دي، چې له شخړې او ځپنې څخه سولې او ډیموکراسۍ ته د تېرېدو پر مهال پلي کېږي.

**قربانـي محـوره عدالـت:** د حسـاب ورکولـو يـوه داسـې تـګلاره چـې د حقيقـت موندنـې، عدالـت، د خسـارې جبـران او ليـږد پـه پروسـو کـې د قربانيانـو حقونـه، کرامـت، فعـال ګـډون او اړتيـاوو تـه لومړيتـوب ورکـوي.

**بښـنه:** حقوقـي يـا سياسـي تصميـم دی چـې د هغـو کسـانو مجـازات چـې يـې ترسـره کـړی تـرې لـرې کـوي يـا يـې محـدودوي؛ غالبـاً د سـولې د هوکـړو د يـوې برخـې پـه توګـه پلـی کيـږي. پـر دې نيوکـه کيـږي، ځکـه چـې کـولای شـي د جـدي سـرغړونو د بـې مجازاتـه پاتـې کيـدو او د قربانيانـو د زيانمنېـدو سـبب وګرځـي.

**قربانـي:** هغـه فـرد يـا ډلـې چـې پـه مسـتقيم يـا غيرمسـتقيم ډول يـې د بشـر حقونـو د سـرغړونو لـه جرايمـو څخـه بدنـي، روانـي، مـادي يـا ټولنيـز زيـان ليدلـی. پـه بين‌المللـي جزايـي محکمـه کـې، قربانيـان د ګـډون او د خسـارې د جبـران حـق نـه لـري.

**مسـتندول:** د راټولولـو، رښـتيا ازمويلـو او د بشـر حقونـو د سـرغړونو يـا بين‌المللـي جرايمـو پـه اړه د شـواهدو، شـاهديو، عکسـونو، راپورونـو او نـورو اطلاعاتـو سـاتل دي.

**د قربانـي ګـډون (بين‌المللـي جزايـي محکمـه):** هغـه بهيـر چـې قربانيانـو تـه اجـازه ورکـوي خپلـې اندېښـنې او د خسـارې د جبـران دعـوې، معمـولاً د قانونـي اسـتازو لـه لارې، بين‌المللـي جزايـي محکمـې سـره مطـرح کـړي؛ څـو د دوی نظرونـه پـه محاکمـو، څېړنـو او پرېکـړو کـې د پاملرنـې وړ وګرځـي.

**د ۱۵ مـې مـادې لـه مخـې مکاتبـه او د اړيکـو تاميـن:** هغـه اطلاعـات او شـواهد چـې د افـرادو، ډلـو يـا سـازمانونو لـه خـوا د بين‌المللـي جزايـي محکمـې څارنوالانـو تـه وسـپارل شـي. څارنـوالان کـولای شـي د مقدماتـي ارزونـې د پيلولـو لپـاره تـرې اسـتفاده وکـړي چـې وروسـته ممکـن پـه څېړنـې پـای تـه ورسـيږي يـا تـرې پـه څېړنـو کـې ګټـه پورتـه کـړي.

**نسـل وژنـه:** د ډلـې د غـړو وژلـو، سـخت ضـرر رسـولو، د تولـد مخنيـوي يـا د ماشـومانو د جبـري انتقـال لـه لارې پـه بشـپړ يـا جزيـي ډول د يـوې ملـي، قومـي، نـژادي يـا دينـي ډلـې د لـه منځـه وړلـو چـاره ده.

يـاد سـاتنه: د قربانيانـو/ د قربانيانـو د کورنيـو او پاتـې کسـانو او غميـزو د خاطـرو د سـاتنې هڅـې دي، لکـه د موزيمونـو رامنځتـه کـول، د يـاد ځلـو جـوړول، ډيجيټلـي آرشـيفونه، مراسـم او د شـفاهي تاريـخ پـروژې.

www.rawadari.org | www.AfghanistanTribunal.com